د انګلستان او ويلز د قانونپوهانو
د بشري حقوقو كميته
(BHRC)

# دښځو او ماشوم د حقوقو
# په باره کی روزنليک

افغانستان
اپريل ۲۰۰۷

BAR HUMAN RIGHTS COMMITTEE OF ENGLAND AND WALES
GARDEN COURT CHAMBERS
57-60 LINCOLN'S INN FIELDS
LONDON WC2A 3LS
UNITED KINGDOM

Tel: +44(0)20 7993 7755
Fax: +44(0)20 7993 7700

Email: bhrc@compuserve.com
Website: www.barhumanrights.org.uk

# فهرست

**سریزه ........................................................ ۱**

**لمړئ فصل: په نړیوالو او کورنیو قوانینو کی حقوق ................. ۳**
الف) دبشر د حقوقو نړیوال قانون............................................ ۳
ب) د نړیوالو حقوقو د عملي کولو لارې چارې ............................. ۱۱
ج) د بشر د حقوقو سیمه ایز تړونونه او څارونکي ارګانونه ............... ۱٤
د) دافغانستان په اساسی قانون کی حقوق..................................... ۱۷

**دوهم فصل: دښځو حقوق ..................................................... ۱۹**
الف) سریـــزه.......................................................................... ۱۹
ب) د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلود تړون (CEDAW)........... ۲۰
(ج) خپلخوښې پروتوکول........................................................ ۳۷
د) حقوقي موارد ....................................................................... ۳۹
هــ) نتیجه ............................................................................ ٤۲

**دریم فصل: د ماشوم د حقوقو تړون ......................................... ٤۳**
الف) سریزه............................................................................ ٤۳
ب) د ماشوم د حقوقو تړون ( CRC ) ........................................... ٤٤
ج) خپلخوښی پروتوکولونه........................................................ ۷۲
د) حقوقي مـــوارد ..................................................................... ۷۳
هــ) نتیجه ............................................................................. ۷٤

**مأخذونه............................................................................ ۷۵**

## سریزه

د انګلستان او ویلز د بشر د حقوقو کمیټه (BHRC) د دغه هیواد د قضایي وکیلانو د کانون د نړیوالو بشري حقوقو څانګه ده. دا یوه خپلواکه اداره ده چي په ټوله نړۍ کې د وکیلانو او قاضیانود حقوقو د ساتنې سره سروکار لري. دا اداره همدا راز د منصفانه قضاوت په حق پورې اړونده د قانون له حکم او له نړیوالو پیژندل شویو معیارونو نه دفاع کوي. د کمیټې د فعالیت ساحه له انګلستان نه هاخوا د نړۍ ټولو هیوادو ته غزیدلې ده.

د انګلستان او ویلز د بشر د حقوقو کمیټه د حقوقی وکیلانو د یوه ټولګې له خوا په ۱۹۹۱ کال کې جوړه شوېده. دا کمیټه رئیس، د رئیس مرستیال،مالي سکرتر او یوه اجرائیوی کمیټه لري چي په میاشت کی یو ځل غونډه کوي. د کمیټې اساسي هدفونه دادي:

- د هغو وکیلانواو قاضیانو حمایه او ساتنه چی دخپل کار په ځای کی ویرول شوي او زور زیاتئ پرې شوئ
- د قانون د حکم او دبشري حقوقود نړیوالو پیژندل شویو معیارونو ساتنه
- له هغو سازمانونو او افرادو سره چی دبشرد حقوقولپاره کار کوي همکاري کول، هغوی ته مشوره ورکول او حمایت ورځنی کول
- دبشر د حقوقو او د بشری حقوقود قوانینو په باره کی د خلکود پوهی اوعلاقمندۍ د پاره کارکول
- د انګلستان او ویلز د وکیلانو د کانون عمومي شورا ته دبشر د حقوقو په اړوند موضوعاتو کی مشوره ورکول

په دی پروژه کی لاندینی اداری د بي.اچ.ار.سي سره همکاري کړیده:

### د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون (AIHRC)

د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون د بن د موافقو او د پاریس د اصولو پر اساس او د بشري حقوقود خوندي ساتلو لپاره د ۲۰۰۳ کال د جون د میاشتی په شپږمه د

افغانستان د موقتي اداری په چوکاټ کې جوړ شوئ دئ. دا کمیسیون د بشر د حقوقو یوملي سازمان دئ چې د افغانستان د اساسي قانون په ۵۸ ماده کې په رسمیت پیژندل شوئ.

دا پروژه د لاندینی اداری په مادي مرسته جوړه شویده:

## د انگلستان د بهرنیو او کامنویلټ هیوادو اداره (FCO)

د انگلستان د بهرنیو او کامنویلټ چارو اداره په بهرکې د دې هیوادله گټونه ساتنه کوي او له نړیالو سازمانونو سره د یوې غښتلې نړیوالې ټولنې په جوړولو کې مرسته کوې. دا اداره له نورو هیوادو او بین المللې ټولنو سره د اړیکو د ساتلو مسئولیت په غاړه لري.

**ژباړونکي : منیر، احمد**

# لمړئ فصل: په نړیوالو او کورنیو قوانینو کی حقوق

## الف) دبشر د حقوقو نړیوال قانون

### ۱. سریزه:د بشر د حقوقو قانون او ملګري ملتونه

دبشردحقوقو قانون د حکومت کوونکواو تر حکومت لاندی خلکوتر منځ اړیکو سره سراووکار لري. د لویدیزو هیوادو سیاسي نظریات او ارزښتونه او همداراز هغه قانوني اصول او سیاسي فرضيي چي د فرانسې او امریکا د انقلابونو راپدي خوا را منځته شوي د بشر د حقوقو دنړیوال قانون اساسات جوړوي . ددي قانون ارزښتونه او اصول د نورو هیوادو په تاریخ کي هم په ګوته کیداي شي.[1]

تر دوهمي نړیوالې جګړې وروسته دبشرد حقوقو قانون دیوه نړیوال قانوني نظام په توګه د ملګروملتونو په چوکات کې رامنځته شو. د ۱۹٤٥ کال داکتوبرپه څلورویشتمه نیټه ٥١ هیوادو ژمنه وکړه چي د ګډ امنیت او بین المللي همکاری له لارې سوله وساتي او د ملګرو ملتو موسسه یې جوړه کړه. نن د نړی نږدې ټول هیوادونه د ملګروملتونو غړي دي چې شمیر یې۱۹۲ ته رسیږي.

د ملګروملتونوغړیتوب ته دمنلو په وخت کې هردولت د۱۹٤٥ کال د ملګرو ملتونود منشور دمسئولیتونو د منلوژمنه کوي. دا منشور یو نړیوال تړون دي چې د بین المللې روابطو اساسي اصول یې په ګوته کړي دي.

د ملګرو ملتونود منشورپه لمړی ماده کې راغلي دي:

"د ملګرو ملتونواهداف دادي چې:

۱– نړیواله سوله اوامنیت وساتي؛
۲– د ملتونو تر منځ دوستانه اړیکي رامنځته کړي؛

[1] دلته مراجعه وکړی: ستاینر، ح. ج. و آستون، پ، د بشر بین المللی حقوق په متن کی ، سیاست قوانین او اخلاقیات. دوهم چاپ ، آکسفورد،د آکسفورد د پوهنتون مطبعه ، ۲۰۰۰ کال

۳- د نړيوالو کړکيچونو د حل او د بشر د حقوقو ددرناوي په لاره کې همکاري وکړي؛ او

٤- د ملتونو د فعاليتونو د هماهنګۍ مرکز وي".[۲]

د ملګرو ملتونو د منشور په۵۵ ماده کې راغلي چې ملګري ملتونه "بايد بې له نژادي،جنسي،ژبنيو او مذهبي تبعيضونو څخه د بشرحقوق او اساسي آزادۍ رعايت کړي او د هغوی دره ناوي ته پراختيا ورکړي". همدا رازپه ٥٦ ماده کې " ټول غړي هيوادونه ځان مکلف بولي چې په ځانګړي اويا ډله ايزه توګه د ملګروملتونو د موسسې سره د ۵۵مادې د اهدافو دعملي کولولپاره همکاري وکړي".

۵۵ او ٥٦ مادي د ١٩٤٨ کال د بشر د حقوقو د عمومي اعلامېې (UDHR) په تصويب سره لانورې غني شوې. د بشر د حقوقو د عمومي اعلامېې پر متن باندې د بيلابيلو هيوادو نماينده ګانو کارکړئ. د ملګرو ملتونوپه اسنادوکې له ١٩٤٦ څخه تر ١٩٦٦ کالو پورې د عربي او اسلامي هيوادونو د ډيپلوماتانوهڅې ثبت شوې دي.

د ملګروملتونو له لارې د نړۍ هيوادو ډيرې څواړخيزه موافقې لاسليک کړي په کومو کې چې هڅه شوې نړۍلاسوکاله،لامصئونه،د عدالت او لازياتوامکاناتوځای وي.ملګروملتونو د نړيوالو قوانينو يوه بامفهومه مجموعه جوړه کړېده چې يوله هغو څخه د بشري حقوقو قانون دی.

### (i) تـــړونونه

- دبشري حقوقومعيارونه په تړونونو،ميثاقونو،منشورونو او پروتوکولونوکې راغلي او کوموهيوادو چې هغه يې لاسليک کړي د هغو دمنلو او عملي کولو مسئولېت لري..
- تړونونه(لاندې وګورۍ)ددولتونو د تصويب يا راتيفيکيشن لپاره خلاص دي.
- راتيفيکيشن هغه بين المللي سند دئ په کوم کي چې يو دولت د يوه تړون د منلواعلام کوي. راتيفيکيشن يوه دولت ته لازم وخت ورکوي تر څوپه ملي سويه يو تړون ومنل شي او د هيواد قوانين په کورنۍ برخه کې ددې تړون د عملي کولو لپاره مساعد شي.

---

[۲] دلته مراجعه وکړئ: http://www.un.org/aboutun/charter/

- د ريزرفيشن پروسه ريزرف کونکي هيوادته دا اجازه ورکوي چې دتړون ځينې برخې کمې او يا د هغو قانوني ارزښت ته په خپل هيوادکي تغير ورکړي. ريزرفيشن د تړون د امضأ، راتيفيکيشن، منلو او تصويبولو په وخت کې پيشنهاد کيدائ شي خو په دې شرط چې هغه د تړون د اساسي هدف سره په تضاد کې نه وي. برسيره پر دې په ځينو تړونونو کې ريزرفيشن منع دئ او يا هم داچې ځينې محدودو ريزرفيشنونو ته اجازه وي.[۳]

(ii) بې تړونه معيارات

- د بشري حقوقو ډير معيارات په تړونونو کې نه بلکه په غيراجباري بين المللي اسنادو لکه اعلاميو، اصولو او لايحو کې ذکر شوي دي.
- ترټولو مهمه يې د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو عمومي اعلاميه ده چې په ډيرو تړونونو، بې تړونه اسنادو او د هيوادونوپه اساسي قوانينو کې ئې انعکاس موندلئ دئ.
- بې تړونه معيارات د تړونونو په اندازه قانوني قدرت نه لري خو سره له دې هم د يوه ځواک په توګه ئې د هيوادونو تر منځ په خبرواترو کې مراعات کيږي او د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې هغه منلي دي.
- دبشري حقوقو ځيني معيارات د ډيرو هيوادوله خوا د بين المللي حقوقو د اساسي او منل شويو اصولو په څير شميرل کيږي.

(iii) خاص رپوټچي

- د بشري حقوقو اواساسي آزاديو د سرغړونې په اړوند د معلومات ورکولو مسئوليت د خاص رپوټچي په برخه دې.
- خاص رپوټچي د بشري حقوقو د کمسيون د رئيس له خوا د پنځو سيمه ايزو ډلو سره تر مشورې وروسته ګمارل کيږي.
- د خاص رپوټچي دندې له بشري حقوقو څخه د سرغړونوپلټنه، څارنه، مشوره او په ډاګه کول دي.

---

[۳] دتړونونو د قانون په هکله د۱۹۶۹کال دويانا کنوانسيون د نړيوالوتړونونو په باب يو با اعتباره تړون دي چې د تړونونو د تصويب،تفسير او قانونيت طرزالعملونه ئې ټاکلې دې. د پوره متن لپاره دا سايټ وګورئ: http://untreaty.un.org/ilc/texts/instruments/english/conventions/١_١_١٩٦٩.pdf

- خاص رپوټچیان د خپلو دندو د تر سره کولولپاره سیمو ته سفر کوي اودبشرد حقوقو کمیسیون ته رپوټ ورکوي.

## ۲- ملګري ملتونه:د بشرد حقوقو قانوني وسیلې

دبشرد حقوقو عمومي اعلامیه (UDHR)، دملکي اوسیاسي حقوقونړیوال تړون (ICCPR) او د اقتصادي، ټولنیزو اوکلتوري حقوقو نړیوال تړون (ICESCR) هغه درې لویې قانوني وسیلې دي چې د "حقوقود نړیوال قانون" (International Bill of Rights) په نامه مشهوردئ.

ځینې نورې قانوني وسیلې هم شته چې د ځانګړو ډلود حقوقود ترېښنولاندې کولو سره سراوکارلري اوهغه دادي: د هرډول نژادي تبعیض د له منځه وړلونړیوال تړون(CERD)، د ربړونې (تعذیب)اونورو ظالمانه اوغیرانساني چلند او جزا پرضد تړون(CAT)، د ښځو پرضد د هرډول تبعیض دله منځه وړلو تړون (CEDAW) او دماشومانو د حقوققو تړون(CRC) دا دبشرد حقوقو له هغومهمو نړیوالوتړونونو څخه دي چې افغانستان لاسلیک کړي اومنلي دي.

(i) د ۱۹٤۸ کال دبشر د حقوقو عمومي اعلامیه

دبشر د حقوقو عمومي اعلامیه[٤] چې په ۱۹٤۸ کال کې د ملګرو ملتونود عمومي اسامبلې له خوا اعلان شوې پر دولتونو باندې قانوني مسئولېتونه نه ږدي ، اما هغه هدفونه تعینوي چې هغوی ته د رسیدو لپاره باید دولتونه کاروکړي. ددې اعلامیې ډیرې برخې د زیاتو هیوادو له خوا د نړیوال جاري قانو ن په توګه منل شوېدي.

ادې اعلامیې د ښځواو نارینه و اساسي حقوق اوآزادئ تعین کړې دي لکه د ژوند، آزادي او ملیت حق، د فکري، شعوري او مذهبي آزادئ حق، د زده کړې او کار حق، د ډوډئ او کور حق، په دولتي چاروکې د برخه اخیستنې حق او د نژاد، رنګ، مذهب، سیاسي او نورو

٤ پوره متن دلته وګوری: http://www.un.org/Overview/rights.html

نظریاتو، ملي او ټولنیزې منشأ، ملکیت، زیږدنې او نورو حالاتو د تبعیض نه د خوندیتوب حق.

- افغانستان د خپل ۲۰۰٤ کال د اساسي قانون په اوومه ماده کې د بشر د حقوقو عمومي اعلامیه په رسمییت پیژني او ژمنه ئې کړې چې ددې اعلامیې او نورو ټولو هغونړیوالو تړونونو رعایت وکړي کوم چې افغانستان لاسلیک کړي دي.

(ii) د ۱۹٦٦ کال د ملکي او سیاسي حقوقونړیوال تړون

ددې تړون په لومړۍ ماده کې[٥] راغلي چې ټول ولسونه د ځانواکمنۍ حق لري او دا په دې معنا چې خلک کولئ شي خپل سیاسي دریځ وټاکي او د خپل اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پرمختګ آزادي لري.په دې ماده کې دا هم راغلي دي چې دولتونه د ځانواکمنۍ د حق د تأمینولو مسئولیت لري.

د دوهمې برخې ۲ـــ٥ مادې پر دولتونوباندې د ملکي اوسیاسي حقوقو د نړیوال تړون د محتویاتو د بې قید او شرطه منلو او ځینو نورو ملحوظاتو د عملي کولومسئولیت ږدي. له دې تړون څخه د سرغړونوسره د سراوکار مؤثرې لارې چارې هم ذکرشوېدي.

ددریمې برخې په ٦ـــ ۲۷ مادو کې د ملکي او سیاسي حقوقو اوږد لست راغلئ چې لاسلیک کوونکې هیوادونه یې باید ساتنه وکړي.

د څلورمې برخې ۲۸-٤٥ مادې د ملګروملتونو د بشرد حقوقود کمیټې جوړول تائېدوي او د لاسلیک کړوهیوادو له خواد ملکي او سیاسي حقوقو د تأمینولواو عملي کولو لارې چارې بنئي.

د عملي کولو لارې چارې د ۱۹٦٦ کال په لومړي خپلخوښې پروتوکول کې زیاتې شوې دي.

د۱۹۸۹کال په دوهم خپلخوښې پروتوکول کې د لاسلیک کوونکوهیوادو له خوا داعدام د سزا د لیرې کولوفیصله شوې ده. لاسلیک کوونکو هیوادو ژمنه کړیده چې ددوی په دولتي

[٥] پوره متن دلته وګورۍ : http://www.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

ساحه کې به هيڅوک نه اعداميږي او د اعدام د سزا د له منځه وړلو لپاره به ضروري ګامونه پورته کوي.

- افغانستان د ۱۹۸۳ کال د اپريل په ۲٤ مه د ملکي او سياسي حقوقونړيوال تړون‌لاسليک کړ.[٦]
- افغانستان ددې تړون لومړئ او يا دوهم پروتوکول نه دئ لاسليک کړئ.

(iii) د ۱۹٦٦ کال د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو تړون[٧]

ددې تړون لومړۍ ماده چې د ولسونو د ځانواکمنۍ په باره کې ده د ملکي اوسياسي حقوقو دنړيوال تړون د لومړۍ مادې سره يو رنګه ده؛ تر دې پرته په دې تړون کې نور حقوق او د لاسليک کوونکو هيوادو مسئوليتونه توپير لري.

د دوهمې برخې په ۲ ــ ٥ مادو کې د اقتصادي،ټولنيزو او کلتوري حقوقو په اړوند د دولتونووجائب ټاکل شوي ترڅو ددې حقوقو د پلي کوکو په لاره کې له توپيره پرته ګامونه پورته شي اوله انفرادي او بين المللي مرستو او همکاريو سره له کورنيو منابعو څخه اعظمي ګټه اوچته شي. ددريمې برخې په٦ –١٥ مادو کې د هغو اقتصادي، ټولنيزو اوکلتوري حقوقو پراخ لست خپور شوئ کوم چې بايد د لاسليک کوونکو هيوادوله خوا خوندي وساتل شي.

د څلورمې برخې ١٦ــ ٢٥ مادې ګډون کوونکي هيوادونه دې ته هڅوي چې په دوراني دود د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو شوراته د تړون د عملي کولو په باب رپوټ ورکړي. د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو کميټه د (ICESCR) د تړون د عملي کيدو څارنه کوي.

افغانستان دغه تړون د ۱۹۸۳ کال د اپريل په ۲٤ مه لاسليک کړ .[٨]

---

٦ د تړون په اړوند د افغانستان اعلاميه دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

٧ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cescr.htm

٨ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cescr.htm

(iv)  د ۱۹٦٥ کال د ټولونژادي توپيرونو د له منځه وړلونړيوال تړون[٩]

دغه تړون د دولتونو له خوا د افرادو،ډلو او يا سازمانونو پر ضد د تبعيض مخنيوئ کوي او له دولتونو څخه غوښتنه کوي چې عامه موسسې او ادارې دې هم همدا شان چلندغوره کړي.

د نژادي توپير د له منځه وړلو کميټه د ګډون کوونکو هيوادو له خوا ددې تړون د عملي کولو څارنه کوي.

افغانستان د نژادي توپير د له منځه وړلو تړون د ۱۹۸۳ کال د آګست په ٥ لاسليک کړ.[١٠]

(v)  د ۱۹۸٤ کال د ربړونې(تعذيب) او نورو ظالمانه،غير انساني او تحقيرکونکو مجازاتو پرضد تړون

تعذ يب د نړيوال قانون له خوا ډير سخت غندل شوئ او د بشر له حقوقوڅخه يوه جدي سرغړونه بلل کيږي. د تعذ يب پر ضد تړون (CAT) کې د هيچا لپاره استثنا نشته[١١]. (CAT) تعذ يب تعريف کړې ، غوښتي ئې دي چې دولتونه بايد په خپلو قوانينوکې هغه غيرقانوني اعلان کړي او دائې هم په ډاګه کړې چې په هيڅ ډول استثنائي حالت کې د تعذ يب لپاره برائت نشته.

د تعذ يب پر ضد کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا ددې تړون د عملي کيدو څارنه کوي.

افغانستان د ۱۹۸۷ کال د جون په ٢٦ مه د سي.آی. ټې تړون لاسليک کړئ دئ.[١٢]

---

٩ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cerd.htm

١٠ ددې قانون په هکله د افغانستان اعلامیه دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/countires/ratification/٢.htm

١١ پوره متن دلته وګورئ:http://www.ohchr.org/english/law/cat.htm

١٢ دتعذيب پر ضد تړون په باب د افغانستان اعلاميه دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/countries/ratification/٩.htm

### (vi) د ۱۹۷۹ کال د ښځوپر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون[۱۳]

د ښځوپر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون د ښځو لپاره په نړیواله کچه منل شوي حقوق تعین کړيدي چې په هغو کې د ښځو او نارینو لپاره مساوي حقوق تضمین شوي دي. دغه تړون د ښځو پرضد د هرډول تبعیض نه مخنیوئ کوي او داسې اقدامات ېې پیشنهاد کړي چې د کومو عملي کول به د نړۍ په هر ګوټ کې د ښځو حقوق تأمین کړي.

د ښځوپر ضد د تبعیض د له منځه وړلوکمیټه د دغه تړون د عملي کیدو څارنه کوي.

افغانستان د ۲۰۰۳ کال دمارچ په پنځمه نیټه د غه تړون لاسلیک کړ.[۱٤]

### (vii) د ۱۹۸۹ کال د ماشوم د حقوقو تړون[۱٥]

د ماشومانو د حقوقو ټول اړخونه په ځانګې رانغښتي له هغې جملې څخه
د ماشومانو ملکي،سیاسي،اقتصادي،ټولنیز او کلتوري حقوق. تړون دي ته هم ګوته نیولې چې د یوه حق تأمینول د نورو حقوقو له تأمینولو څخه نشي جلا کیدلئ.

دماشومانو د حقوقو کمیټه د دولتونو له خوا د دغه تړون د عملي کیدو څارونه کوي.

افغانستان د ۱۹۹٤ کال د اپریل په ۲۷ مه د سي.آر.سي تړون لاسلیک کړئ دئ.[۱٦]

---

۱۳ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/cedaw.htm

۱٤ افغانستان د ښځو پر ضد دتبعیض د له منځه وړلو د تړون په باب تراوسه کومه اعلامیه نده صادره کړې. نورې اعلامیې دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/countries/ratification/۸_۱.htm

۱٥ پوره متن دلته وګورئ: http://www.ohchr.org/english/law/crc.htm

۱٦ د سي.آر.سي په باب د افغانستان اعلامیه دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/countries/ratification/۱۱.htm

## ب) د نړیوالو حقوقو د عملي کولو لارې چارې

### ۱. سریزه

د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو په اړوند د هر تړون د عملي کیدو د څارنې لپاره د ماهرانو یوه جلا کمیټه جوړه شوې ده. دا کمیټې د هغو تړونونو د پریکړو له مخې جوړې شوي د کومو چې دوی څارنه کوي. دا کمیټې د تړونونو دشرایطوسره سم ګټې دندې تر سره کوي چې ځینې ئې دادي:

- د ګډون کونکو هیوادو د رپوټ څیړنه
- د ځانګړو شکایتونو او لیکونو څیړنه
- د هیوادونو تر منځ د شکایتونو څیړنه
- د عمومي تبصرو خپرول

ټولې کمیټې عمومي تبصرې یا پیشنهادونه صادروي چې د اړونده تړون با صلاحېته تفسیر دی. دا کمیټې حقوقي ارګانونه ندي ، یوازې کیدای شي نیمه قضائي وګڼل شي.په ټولو حالاتو کې د دولتي رپوټونوپه هکله نتیجه اخیستنې ، دځانګړو شکایتونوپه هکله نظریات او همدا راز عمومي تبصرې او پیشنهادونه چې د بیلابیلو کمیټو له خوا وړاندې کیږي اجباري نه دي او پیشنهادي بڼه لري. د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو سیستم یو ملایمه قانون دئ ځکه چې د قضائي محاکمولـه خوا په مستقیمه توګه نه جاري کیږي خو سره له دې هم پر نړیوالو اړیکو او بین المللي حقوقو باندې اغیزه لري.

کمیټو ته د رپوټ ورکولو یوه بله لاره هم شته چې هغه د انجیو ګانو او نورو له خواتر سره کیږي. دا اړخیز رپوټونه یوه مؤثره وسیله ده چې په هغو کې له دولت نه جلا ډلې کولئ شي دولتي رپوټ وغندي اوپا پکي کوم څه زیات کړي. د رپوټ ورکولوددې میکانیزم له مخې دولتونه ځان د خپلو خلکو او ملګرو ملتونو په وړاندې مسئول ګڼي نو ځکه هم دا رپوټونه د دولتي رپوټونو په شان با ارزښته دي. د بیلابیلو هیوادونو انجیو ګانو ددولتي رپوټونو تر څنګ اړخیز رپوټونه وړاندې کړي دي.

## ۲. ملګري ملتونه:د بشر د حقوقو اورګانونه

(i) د بشر د حقوقو کميټه

د بشر د حقوقو کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د ملکي او سياسي حقوقو د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول – ٤٠ مه ماده
- د دولتونو تر منځ شکايتونه –٤١ مه – ٤٣ مه ماده
- ځانګړي شکايتونه لومړئ خپلخوښې پروتوکول

### (ii) د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو کميټه

د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د تړون عملي کول دا ډول ځاري

- رپوټونه وړاندې کول–۱٦ مه ماده
- ځانګړي شکايتونه د لومړي خپلخوښې پروتوکول مسوده

په اوسني وخت کې دا کميټه نشي کولۍ ځانګړي شکايتونه و څيړي، مګر د يوه خپلخوښې پروتوکول مسوده تر کار لاندې ده.

### (iii) د نژادي تبعيض د له منځه وړلو کميټه

د نژادي تبعيض د له منځه وړلو کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د (CERD) د تړون عملي کول دا ډول ځاري:

- رپوټونه وړاندې کول – ۹ مه ماده
- د دولتونو تر منځ شکا يتونه – ماده های ۱۱ مه– ۱۳ مه ماده
- ځانګړي شکايتونه د لومړۍ خپلخوښې پروتوکول ۱٤مه ماده
- وختي خبر دارۍ او عاجل طرزالعملونه

وختي خبر دارۍ او عاجل طرزالعملونه وقائوي تد بيرونه دي چې موخه يې له روان حالت څخه کړکيچ ته د ښوئيدو مخنيوۍ اوله تړون څخه د جدي سرغړونې د محدودولو او يا مخنيوي لپاره د بيړنيو اقداماتو نيول دي.

### (iv) د تعذ يب پر ضد کميټه

د تعذ يب پر ضد کميټه د ګډون کونکو هيوادو له خوا د (CAT) د تړون عملي کول دا ډول ځاري:

- رپوټونه وړاندې کول –۱۹ مه ماده

- د دولتونو تر منځ شکا یتونه د خپلخوښې پروتوکول ۳۰مه ماده
- ځانګړي شکایتونه د خپلخوښې پروتوکول ۲۲مه ماده
- بیړنۍ پلټنې– ۲۰ مه ماده
- خپلخوښې پروتوکول په ۲۰۰۲ کال کې منل شوئ او د لاسلیک کولو لپاره خلاص دئ.

د خپلخوښي پروتوکول به یوه فرعي کمیټه جوړه کړي کومه به چې د ملي ادارو سره په همکاري د هیواد دننه د زندانونو تفتیش کوي.

(v) د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو کمیټه

دا کمیټه د ګډون کونکو هیوادو له خوا د (CEDAW) د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول – ماده ۱۸
- پیشنهادونه – ماده ۲۱
- ځانګړي شکایتونه د خپلخوښې پروتوکول
- پلټنه د خپلخوښې پروتوکول

(vi) د ماشوم د حقوقو کمیټه

دا کمیټه د ګډون کونکو هیوادو له خوا د ماشوم د تړون عملي کول دا ډول څاري:

- رپوټونه وړاندې کول ـــ ٤٤ مه ماده

## ج) د بشر د حقوقو سیمه ایز تړونونه او څارونکي ارګانونه

### ۱. سریزه

د ملګرو ملتونو د بشر دحقوقو د تأمینولو پر میکانیزمونو سر بیره په افریقا، امریکا او اروپا کې د بشري حقوقو سیمه ایز تړونونه هم چلند لري. په دې تړونونو کې خوندي

شوي حقوق د بشر د حقوقو د نړیوال قانون څخه نقل شوي او هغو ته ورته دي. له دې تړونونو څخه هر یوه خپلې ځانګړې لارې چارې غوره کړي ترڅو په ملي محاکمو کي د بشري حقوقو خوندي ساتل تأمین شي. د بشرد حقوقودرې عمده سیمه ایز تړونونه دادي: د افریقا د بشری او ولسونو د حقوقو منشور (افریقایي منشور) ،د امریکا د لویې وچې د بشر د حقوقو تړون (ACHR) او د بشر د حقوقواو اساسي آزادیو د ساتنې اروپایې تړون (ECHR).

## ۲. سیمه ایز تړونونه او څارونکي ارګانونه

(i) افریقا

- د افریقا منشور په ۱۹۶۱ کال کې تصویب شوئ دئ او د افریقا د بشری او ولسونو د حقوقو د کمیسیون له خوا ئې څارنه کیږي.
- دا کمیسیون د دولتونو، ځانګړو افرادو او سازمانونو له خوا لیکونه چې د یوه دولت له لوري په منشورکي پرخوندي شوو حقوقوباندي د تیري په هکله وي راټولوي او څیړي یې. انجیوګاني او انفرادي کسان هم کولئ شي د کمیسیون په وړاندي وینا وکړي. د کمیسیون وروستی پریکړې د پیشنهادونو په نامه یادیږي او د اړونده هیوادو لپاره اجباري قانوني بڼه نه لري.
- په منشورپورې اړونده پروتوکول د افریقا د بشراو ولسونو د حقوقو محکمه جوړه کړیده دا محکمه ددې ځواک لري چې د ګډون کونکي هیواد یا په منشور پورې تړلي سازمان او یا د بشر د حقوقو کوم بل افریقایې اورګان په غوښتنه مشورتي نظریه صادره کړي.

(ii) امریکا

- د امریکا د لویې وچې د بشر د حقوقو تړون په ۱۹۶۹کال کي تصویب شوئ دئ اود امریکا د لویې وچې د بشردحقوقوکمیسیون ته درپوټونواودوسیودڅیړلودنده سپاري.
- د امریکا د لویې وچې د بشردحقوقوکمیسیون یو له هغو دوو سازمانونو څخه دئ چې د بشر د حقوقو د خپرولو او ساتلو دنده لري. دا کمیسیون د بشر له حقوقو

څخه د سرغړونو تورونه راټولوي، د امریکا د لوېې وچې محکمې ته دوسيې وړاندې کوې او په قضايي محاکمو کې د دې دوسيو د څېړلو په مهال حاضرېږي.

- د امریکا د لوېې وچې د بشر د حقوقومحکمه مشورتي او قضاوتي صلاحيت لري او د تړون د موادو له مخې هغه موارد څېړي په کومو کې چې پر يوه ګډون کونکي هيواد د تړون له حقوقو څخه د سرغړونې تور لګيدلې وي.

(iii) اروپا

- د بشر د حقوقواو اساسي آزاديو د ساتنې اروپايي تړون په ۱۹۵۳ کال کي تصويب شويدئ. ددې تړون منل یا راتيفيکيشن د اروپا په شوراکې د شامليدو شرط دئ.
- دې تړون د اروپا د بشردحقوقومحکمې ته دمواردودڅېړلوصلاحيت ورکړئ دئ. دا محکمه په تړون کې دګډون کوونکي دولت اویا انفرادي کسانوهغه شکايتونه اوري په کومو کې چې دوی په تړون کې د راغلو حقوقو څخه دسرغړونې د قرباني توب ادعا لري.
- کدا محکمه همدا راز د وزيرانو د کميټې په غوښتنه د تړون او د هغه د پروتوکولونو د تفسير په اړوند د قانوني مسئلوپه باب مشورتي نظر ورکولئ شي.دولتونه ددي محکمې د وروستي قضاوت په وړاندې مکلفيت لري ، خو دا قضاوت نه شي کولئ چې ملي پریکړې شنډې او کورني قوانين لغوه کړي.

(iv) دعربي هيوادونو اتحاديه

په ۱۹۹٤ کال کي دعربي هيوادونواتحاد يېې ددغوهيوادونود بشردحقوقومنشور تصويب کړ. د دې منشور څارونکئ ميکانيزم د بشر د حقوقو د ماهرانو يوه کميټه ده چې په دريو کالو کې يو ځل د ګډون کونکو هيوادو له خوا وړاندې شوي رپوټونه څېړي. د دې منشور راتيفيکيشن لا تر اوسه ندئ شوئ او په عربي سيمه کې د بشر د حقوقو کميسيون او محکمه فعاليت نه لري.

(v) د اسلامي هيوادو د کنفرانس سازمان

د اسلامي هيوادو د کنفرانس سازمان په ۱۹۹۰کال کې د بشرد حقوقو په باب د قاهرې اعلاميه تصويب کړه چې په هغې کې د اسلامي شرعيت قانون د بشر د حقوقو يوازينی سرچينه منل شوې ده. دا اعلاميه د بشرد حقوقودعمومي اعلاميې په هکله د يوه عکس العمل او د هغې داسلامي همکار په توګه شميرل کيږي.

## د) دافغانستان په اساسی قانون کی حقوق

### ۱. سريزه

د ا فغانستان په تاريخ کې د ۱۹۲۳کال نه راپديخوا په بيلابيلو اساسي قانونونو کې اساسي حقوق شامل ؤ. د افغانستان د نوي اساسي قانون لپاره د ملګرو ملتونو د بن پروسې لاره اواره کړه. د بن پروسې تر ۲۰۰٤کال پورې د يوه پړاخه، څو ملیتيز او د خلکو د پوره استازيتوب دولت د جوړولو اساسي چوکاټ غوره کړ. د بن په موافقوکې د اساسي سياسي پروسو په هکله پريکړې شاملې دي او د هغو له مخې د دولت جوړولو د پروسې سره د مرستې کميسيونونه وټاکل شول : د اساسي قانون کميسيون، د بشر د حقوقو کميسيون، د ملکي خدمتونو کميسيون او د قضايي اصلاحاتو کميسيون.[۱۷]

د اساسي قانون د مسودې د جوړولو کميسيون د ۲۰۰۲ کل د اکتوبر په مياشت کې د ۹ کسانو په ترکيب چې د جمهور رئيس له خوا ټاکل شوي ؤ په خپل کار پيل وکړ. ددې کميسيون دنده دا وه چې د ۲۰۰۳ کال د مارچ د مياشتې تر ۳۱ پورې د قانون مسوده جوړه او جمهور رئيس ته يې وړاندې کړي. دا مسوده بايد د ۱۹٦٤ کل د اساسي قانون پر بنياد يوازې د افغانانو له خوا جوړه شوې واى. د ۲۰۰۳ کال په اپريل کې دا کميسيون د اساسي قانون د بررسی په کميسيون بدل شو چې ۳۵ غړي يې درلودل.

### ۲. د ۲۰۰٤ کال اساسی قانون

۱۷ دا مأخذوګوری: Wardak, Ali, 'Building a post-justice system in Afghanistan' in *Crime, Law and Social Change* ٤١, pp.٣١٩-٣٤١, ٢٠٠٤

د افغانستان نوئ اساسي قانون د ۲۰۰٤ کال د جنورئ په ۲٦ مه نیټه د جمهور رئیس حامد کرزي له خوا لاسلیک او اعلان شو. نوئ اساسي قانون د اسلام ، دموکراسئ او بشري حقوقو پر بنسټ ولاړ او دولت ته دا دنده سپاري چې د بشر د حقوقو دره ناوئ وکړي.

د قانون په اوومه ماده کې د نړیوالو حقوقو په باب داسې راغلي:

(۱) " دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول د معاهدو، د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان د هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي".

د نوي اساسي قانون په دوهم فصل کې د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره اساسي حقوق شامل دي ("د اتباعو اساسي حقوق او وجایب" ۲۲ ــ ۵۹ مې مادې). په دې فصل کې د مساوات، ژوند، آزادئ، بشري کرامت، د ذمې برائت، د تعذ یب منع، د انتخاباتو ، زده کړې، کار، د اجباري کار منع او کورنئ حقوق شامل دي.

د اساسي قانون ۵۸ مادې له مخې د افغانستان د بشرد حقوقو خپلواک کمیسیون جوړشوئ تر څو په افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعایت څارنه او ملاتړ وکړي. دا ماده هر چاته اجازه ورکوي چې د خپلو اساسي حقوقو د نقض په باره کې کمیسیون ته شکایت وکړي. کمیسیون کولای شي د افرادو د اساسي حقوقو د نقض موارد قانوني مربوطو څانګو ته راجع کړي او د هغوی له حقوقو څخه په دفاع کی مرسته وکړي.

# دوهم فصل: دښځو حقوق

## الف) سریــــزه

د بشر د حقوقو نړیوال قانون په رسمیت پیژندلي چې ښځې بیله تبعیضه د نارینو سره مساوي حقوق لري. همدې قانون د بشر له حقوقو څخه په استفاده کې هر ډول تبعیض او توپیر منع کړئ دئ. د ښځو لپاره د حقوقو مساوات د ملګرو ملتونو د منشور بنسټیز اصل دئ او د بشر د حقوقو نړیوال قانون د ښځو پر بشري حقوقو باندې نور هم ټینګار کړئ دئ.[18]

خو سره له دې د نړی په بیلابیلو سیمو کې د ښځو پر ضد د تبعیض د نویو ډولونو په رامنځته کیدو سره دا احساس شوه چې په نړیواله کچه د ښځو منل شوي حقوق په کافي اندازه ندي خوندي شوي. د ښځو د حالاتو کمیسیون [19] له خپل تأسیس څخه راپدیخوا هڅه کړیده چې د ښځو د تبعیض پر ضد عمومي تضمینونه تعریف او په هغو وسایلوکې یې ونغاړي کوم چې د ښځو په حقوقو پوري اړه لري.ددې کمیسیون د کارپه نتیجه کې ځینې مهمې اعلامیې او میثاقونه صادر شول کوم چې د ښځو د بشري حقوقو ساتنه کوي.

هغه نړیوالې حقوقي وسیلې چې په خاص ډول د ښځو حقوقو ته متوجه دې دادې:

- د ۱۹۷۹ کال د ښځو پر ضد دټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون(د ۲۰۰٦ کال تر نوومبره پوري ۱۸۵ هیوادونه).

[18] دا مأخذوګوری: Charlesworth, H. and Chinkin, C., *The boundaries of international law. A feminist analysis* (Manchester: Manchester University Press, ۲۰۰۰).

[19] د ښځو د حالاتو په باب کمیسیون د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورا د یوه فعاله کمیسیون په توګه جوړ شو تر څوپه سیاسي،اقتصادي،مدني،اجتماعي اود ښوونې او روزنې برخو کې د ښځو د حقوقو په باب شورا ته رپوټونه او تجویزات وړاندې کړي.

- د ۱۹۹۹ کال د ښځو پر ضد د دتولو تبعیضونود له منځه وړلود تړون د خپلخوښې پروتوکول ( د ۲۰۰٦ کال تر فبروري پوري ۸۵ هیوادونه)

## ب) د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلود تړون (CEDAW)

په ۱۹۷۹ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د د ښځو پر ضد دټولو تبعیضونو د له منځه وړلو تړون چې ټول د ښځو پر ضد د تبعیض په باره کې دئ تدوین کړ. دا تړون چې د ۱۸۵ هیوادو له خوا منل شوی دی پر ګډون کونکو هیوادو باندې دا حقوقي مسئولیت ږدي چې د ښځو پر ضد تبعیض له منځه یوسي او هغوی ته دا موقع مساعده کړي چې له خپلو ملکي، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو څخه په عامه او شخصي ژوند کې ګټه واخلي. دا تړون ډیر ریزرفیشنونه لري. افغانستان د ۲۰۰۳ کال دمارچ په پنځمه نیټه دا تړون لاسلیک کړئ خو تر اوسه یې د هغه د محتویاتو په باب کومه اعلامیه او یا ریزرفیشن نه دئ صادر کړئ.

ددی تړون مادې ځانګړي مقررات دي چی جلا جلا به وڅیړل شي.

**بنسټیز قانون**

ددې تړون په لمړۍ ماده کې د ښځو پر ضد تبعیض داسې تعریف شوئ:

هر ډول تجرید ،استثنا او یا محدودیت چې د جنس پر بنسټ وي او هدف یا تاثیر ئې پر ښځو باندې د هغوی له بشري حقوقو او په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، مدني او نورو ساحو کې د اساسي آزادیو له درلودلو، استفادې او په رسمیت پیژندنې نه محرومول او بې برخې کول وي.

CEDAW د جنس پر اساس د تمایز د له منځه وړلو په لټه کی نه دی بلکه یوازی د ښځو پر ضد د تبعیضی چلند د له منځه وړلو هڅه کوي.

**د د ولتونو له خوا منل شوي مکلفیتونه**

دوهمې مادې هغو عدلي او نورو تدابیروته اشاره کړی کوم چې باید د تړون د ګډون کونکو هیوادونو له خواو نیول شي تر څو د ښځو پر ضد تبعیضونه له منځه ولاړ او د نارینو سره د هغوی مساوات تأمین شي. له هغو تدابیرو څخه ځینی دادي:

- په ملي اساسي قوانینو او نورو اړونده حقوقي اسنادو کې د ښځو او نارینودحقوقو د مساوات اصل شاملول؛
- له نارینو سره د ښځو د مساوي حقوقو د خوندي ساتنې لپاره د قانوني وسیلو ایجادول او د هرډول تبعیضي عمل په وړاندې له ښځو څخه د باصلاحیته محکمو او دولتي ادارو په مرسته ساتنه کول؛
- د خاصو قوانینو د تصویبولو او د تحریمونو په شمول د نورو تدابیرو د نیولو په مرسته د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو منع کول؛
  - د عامه ادارو او دولتي ارګانونو له خوا د ښځو پر ضد د تبعیضي اعمالو مخنیوئ؛
  - د افرادو، سازمانونو او موسسو له خوا د ښځو پر ضد د تبعیض له منځه وړل؛
- د هغو جاري قوانینو، مقرراتو، دودونو او رواجونو له منځه وړل او یا هغوی ته تغیر ورکول په کومو کې چې د ښځو پر ضد تبعیض موجود وي؛
- دټولو هغو جزائي پریکړو لغوه کول په کومو کی چې د ښځوپر ضد تبعیض شوئ وي.

**د دوهمې مادې** له مخې غړي هیوادونه مکلف دي چی د تړون د تصویب لپاره په تقنینی او غیر تقنیني ساحو کې په اقداماتو لاس پوری کړي.
**د دوهمې مادې** احکام په تقنیني برخه پوری اړه لري. له همدې امله غړي هیوادونه تعهد کوي چی په خپل اساسي او نورو قوانینو کې د عدم تبعیض اصل شامل کړی او د هغه د احکامو عملي کول تامین کړي، د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو مقررات و ضع کړي، د اړونده قانوني ادارو د جوړولو له لاری د ښځو د حقوقو قانوني حمایت خوندي کړي او د جزا د قانون په شمول ټول هغه جاري قوانین لغوه کړي په کومو کې چې د ښځو پر ضد تبعیض څرګند دئ.
په غیر تقنیني ساحو کې غړي هیوادونه تعهد کوي چې د ښځو پر ضد له تبعیض څخه ډډه وکړي او ټولې عامه ادارې او سازمانونه همدې کار ته وهڅوي، د افرادو،سازمانونو او مؤسسو له خوا د تبعیضونو مخنیوئ وکړي او د لازمو اقداماتو له لارې د هغو مقرراتو،

دودونو او رواجونو په له منځه وړلو لاس پورې کړي په کومو کې چې د ښځو پر ضد تبعیض وجود لري.

**د ښځو وده او ارتقأ**

**په دریمه ماده** کې عمومي وجائب راغلي دي او له غړو هیوادو څخه غواړي چی په سیاسي،اجتماعي،اقتصادي او کلتوري ساحو کې په لازمو اقداماتو لاس پوری کړي تر څو:

**د ښځو پوره وده او ارتقأ تأمین شي او هغوی وکولئ شي له نارینو سره په مساوي دود له بشري حقوقو او اساسي ازادیو څخه ګټه واخلي.**

له همدې امله **دریمه ماده** غړو هیوادونوته اجازه ورکوي چی د ښځو د ارتقأ لپاره په مشخصو تدابیرو لاس پوری کړي.

**مؤقت خاص تدابیر**

**د ٤ مادې په ۱ فقره** کې د غړو هیوادو څخه غوښتل شوي چی د ښځو او نارینو د برابرئ د پروسې د ګړندي کولو لپاره مؤقت خاص تدابیر ونیسي، دا تدابیر باید له هغه وروسته چې د ښځو او نارینو د برابرئ موخه تر سره شي متوقف شي.
نو ځکه هم د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو په تړون کې د مثبت عمل او مثبت تبعیض اټکل شوئ دئ. ددې تدابیرو موخه د غیر مساویانه معیارونو رامنځته کول ندي بلکه برابري ته تر رسیدو وروسته لغوه کیدونکي دي.

سربیره پر دې د **٤ مادې په ۲ فقره** کې څرګنده شوی چې د مورانو د ژغورنې لپاره د خاصو اقداماتو نیول باید یو تبعیض ونه ګڼل شي. دا امر غړو هیوادو ته اجازه ورکوي داسې تدابیر عملي کړي کوم چې په عادي حالاتو کې کیدای شي تبعیضي وګڼل شي.ځینې داسې تدابیر لکه کورنیو ته مادي مرستې د ښځو په ګټه وي، خو ځینې نور په عمل کې د هغوی د ګټو پر ضد دي. د مثال په توګه که چیرې ماشوم لرونکو ښځو ته په ځینو ادارو کې د کار د شمول اجازه ورنکړای شي دا کار به د هغوی ګټو ته یو ضرر وي. لکه څنګه چې CEDAW ددې ډول تدابیرو په هکله کوم مشخص طرزالعمل نلري ، نو ځکه هم هر غړئ هیواد کولی شي دا خاص تدابیر پخپله وټاکي.

**ټولنیز او کلتوري اړخونه**

**پنځمې مادی** پر غړو هیوادونو باندې دوه نورې وجیبې هم ایښې دي. د پنځمې مادې (الف) فقره د دولتونو څخه غواړي:

**چې د ښځو او نارینو تر منځ د چلند ټولنیزو او کلتوري نمونو ته داسې بدلون ورکړي تر څو هغه تعصبات او رسم او رواجونه د کومو له مخې چې یو جنس پر بل لوړ او یا ټیت منل شوئ وي له منځه ولاړ شي.**

دولتنونه مکلف دي چې ټولنیزو او کلتوري چلندونو ته د تغیر ورکولو لپاره ټولو لازمو اقداماتو ته لاس واچوي . دا اقدامات او د هغه ټولنیزو چلندونو حدود چې باید بدلون ومومي په **پنځمه ماده** کې ندې ټاکل شوي، نو ځکه هم تمه کیږي چې هردولت باید پخپله د ښځو او نارینو تر منځ په ټولنیزاو کلتوري ژوند کې د عنعنوي اړیکو حدود وټاکي او د هغو د بدلون هڅه وکړي.

پنځمه ماده له دولتونو څخه غواړي چې په فعاله توګه د ټولنیز چلند او تفکر د بدلون په پروسه کې برخه واخلي. پدي ډول دې مادې د ښځو د طبیعي حقوقو د تأمین په لاره کې د هیوادونو مخې ته پراخ وجائب ایښي دي.

**د پنځمې مادې(ب)فقره** غړو هیوادونو ته د کلتوري چلند د بدلون لاندې لاره پیشنهادوي:

**د کورنئ په ښوونه او روزنه کې باید پدې امر پوهیدنه شامله وي چې مورګلوي یوه ټولنیزه دنده ده، د ماشومانوپه روزنه او وده کې ښځې او نارینه ګډ مسئولیت لري او د کوچنیانو ګټې په تولو حالاتو کې تر ټولو باارزښته دي.**

**د پنځمې مادې(ب)فقره** څرګندوي چې دولتونه مکلف دي خپل اتباع پدې وپوهوي چې د ماشومانو په وړاندی دواړه مور او پلار حقوق او وجائب لري، یا په بل عبارت دولت باید د خپلو اتباعو پدې امر پوهیدنه تأمین کړي چې مورګلوي یو شخصي انتخاب نه بلکه یوه ټولنیزه دنده ده.

**د پنځمې مادې(ب)فقره** کیدای شي د یوه چا د شخصي حق(د پلار او مور له خوا د ماشومانو د تعداد او یا د هغوی تر منځ د مهالي فاصلې د غوره کولو حق) د محدودیت په معنا وي، له دې امله **د پنځمې مادې(ب)فقره** د شپاړسمې مادې د لومړئ فقرې د (هــ)له بند سره چې په

هغې کې مور او پلار ته د کورنۍ د تعداد د ټاکلو لپاره مساوي حق ورکړل شوئ دئ تضاد لري.

**د پنځمې مادې(الف)فقره** له غړو هیوادونو څخه غواړي چې مورگلوي د يوې ټولنيزې دندې په معنا د خلکو تر منځ تفهيم کړي، او هيوادونو ته صلاحيت ورکوي چې د مورگلوي په مسائلو او د هغو په تفهيم کې لاسوهنه وکړي او پدي ډول هغې ساحې ته لاس وغزوي کومه چې د زياترو ښځو لپاره د ژوند خورا مهمه موضوع ده.

**پر ښځو تجارت**

**شپږمه ماده** د ښځو پر تجارت پورې اړه لري او له غړو هيوادونه غواړي چې:
د تقنيني تدابيرو په گډون له ټولو اقداماتو نه کار واخلي تر څو د ښځو د تجارت ټولې بڼې او د فحشا له لارې د ښځو استثمار له منځه يوسي.
د شپږمې مادې له احکامو څخه غبرگون تعبير اخيستل کيدای شي او هغه دا چې دولتونه يا د ښځو څخه د فحشا له لارى د استثمارد له منځه وړلو سره او يا هم پخپله د فحشا د له منځه وړلو سره موافقه کوي.ددواړو توپير پدې کې دې چې څوک له فحشا څخه گټه اخلي. د مثال په توگه هغه څوک چې د فاحشې عوايد تر لاسه کوي د "فحشا له لارى د ښځو د استثمار" په تور د مجازاتو وړ دئ، خو که چيرې فحشا غير قانوني وي نو فاحشه ښځې د مجازاتو وړ دي.

**سياسي حقوق**

**اوومه ماده** د ښځو له سياسي حقوقو سره سراو کار لري او له غړو هيوادو نه غواړي چې په سياسي او ټولنيز ژوند کی د ښځو پر ضد د تبعيض د له منځه وړلولپاره لازمو اقداماتو ته لاس واچوي تر څو ښځې وکولای شي له نارينو سره په مساويانه توگه:

- **أ. په ټولو انتخاباتو او عامه نظرغوښتنو کې گډون وکړي او انتخابي مقاماتو ته د کانديد کيدوحق ولري؛**
- **ب. د دولتي تگلارې په جوړولواو تطبيقولوکې برخه واخلي او د حکومت په ټولو سطحو کې دنده تر لاسه کړي؛**

**ج. په ټولو هغو غیردولتي مؤسسو او سازمانونو کې ګډون وکړي کوم چې د هیواد له عامه او سیاسي ژوند سره سراوکار لري.**

په سیاسي تحولاتو کې د ښځو د ګډون د حق له پرسمیت پیژندلو نه موخه د ښځو تشویقول دي تر څو هغوی وکولائ شي په ټرون کې له خپلو تثبیت شوو حقوقو نه ګټه واخلي.

**په نړیوالو چارو کې د حکومت استازیتوب**

**اتمه ماده** په نړیوالو چارو کې د ښځو له خوا د خپل حکومت په استازي توب پورې اړه لري. ددې مادې له مخې:
**غړي هیوادونه باید له ټولو اقداماتو څخه کار واخلي تر څو ښځې له نارینو سره په مساوي توګه او بیله هر ډول تبعیضه دا امکان پیدا کړي چې په نړیواله سویه د خپل حکومت نماینده ګي وکړي او د نړیوالو سازمانونو په چارو کی برخه واخلي.**

**د اتمې مادې** موخه داده چې غړي هیوادونه په نړیواله سطحه کې د خپلو استازو په ټاکلو کې د ښځو تعداد ته پاملرنه وکړي.

**ملـــیـــت**

**نهمه ماده** د ملیت په هکله عمومي اصل بیانوي او له غړو هیوادو څخه غواړي دا ومني چې ښځو او نارینو ته د تابیعیت او ملیت د لاسته راوړلو، ساتلو او بدلولو مساوي حقوق تضمین کړي.

**د نهمې مادې ۱ فقره** له غړو هیوادونه غواړي چې:
**په خاص ډول دا تضمین کړي چې له یوه بهرني سره واده او یا هم د میړه د ملیت بدلون په هیڅ ډول نشي کولای د ماندینې ملیت ته بدلون ورکړي، هغه بې تابیعته کړي او یا هم د میړه ملیت ورباندې تحمیل کړي.**

**د نهمې مادې ۲** فقره د ماشوم د ملیت په باب ده او دا بیانوي چې د ماشوم د ملیت د ټاکنې په وخت کې باید پریکړه کوونکۍ د پلار او مور دواړو ملیت په نظر کې ونیسي او ماشوم کولۍ شي دواړه کسب کړي.

### د ښوونې او روزنې حق

**لسمه ماده** د ښوونې او روزنې په برخه کې د ښځو د مساوي حقوقو په هکله ده او د هغوی په کلتوري ژوند کې ډیر مهم توکئ دئ ځکه چې بیله هغې ښځې نشي کولئ په کار، ټولنیز ژوند او یا په کورنۍ کې له خپلو حقوقو څخه بشپړه ګټه واخلي. ددې حق د اهمیت سره سره، ښوونه او روزنه هغه برخه ده په ګومه کې چې ښځې له ډیرو ژورو تبعیضونو سره مخامخ دي.

CEDAW د ښځو د ښوونې او روزنې د حق په هکله ډیرځرګند موقف لري او د تعلیمي مؤسساتو د فعالیت په ټولو اړخونو کې د همدې ډول معیارونو غوښتنه کوي.

**لسمه ماده** له غړو هیوادو نه غواړي چې لاندې حقوق تأمین کړي:

**أ. د مسلکي او حرفوي لارښوونې او په ښارونو او بانډو کې د زده کړې او د دیپلوم د لاسته راوړلو لپاره مساوي شرائط، دا مساوات باید په وړکتونونو ، ښوونځیو ،تخنیکي،مسلکي او د لوړو زده کړو په ټولو مؤسسو کې تأمین شي؛**

**ب. مساوي درسي نصاب، مساوي ازموینې،دمساوي تحصیلي سوئې ښوونکو او مساوي درسي ودانیو او تجحیزاتو ته رسیدنه؛**

**ج. د ښوونې او روزنې په ټولو بڼو او پړاونو کې د ښځو او نارینو د رول په باره کې د هر ډول کلیشهٔ نظریاتو له منځه وړل، او همدې موخې ته د رسیدو لپاره د ګډې ښوونې او روزنې تشویقول او په خاصه توګه د درسي کتابونو او ښوونځیو په پروګرامونو باندې نوئ نظر کول او د نویو لاروچارو رامنځته کول؛**

**د. د تحصیلي بورسونو او سکالرشیپونو څخه د ګټه اخیستنې مساوي امکانات؛**

**ه. د تخصصي سوېې د لوړولو او د بیسوادۍ د له منځه وړلو په پروګرامونو کې د برخه اخیستنې مساوي امکانات، بالخصوص هغه پروګرامونه چې موخه يې د نارینه او ښځو ترمنځ د تحصیلي توپیر له منځه وړل وي؛**

**و. د اناثو شاګردانو د اخراج د شمیر کمول او د هغو نجونو او ښځو لپاره چې بیوخته ئې ښوونځئ پریښئ وي د خاصو پروګرامونو برابرول؛**

**ز. په سپورت او بدني روزنه کې د فعال ګډون لپاره د مساوي امکاناتو برابرول؛**

**ح. خاصو تعلیمي پروګرامونو ته رسیدنه کوم چې د کورنیو د روغتیا او سلامتیا په هکله معلوملت ورکوي؛**

CEDAW له غړو هیوادو څخه د دوه ډوله فعالیتونو د تر سره کولو غوښتنه کوي: لومړئ ، مساوي ښوونې او روزنې ته مساویانه دسترسي او دوهم د هغو اقداماتو تطبیقول کوم چې به په وروستي امر کې په ټولنیز او سیاسي چلند کې بدلون راولي.
له همدې کبله ګډه ښوونه او روزنه باید د وروستي هدف په څیر نه، بلکه د کلیشهٔ نظریاتو د له منځه وړلو د پروګرام د یوه جز په څیر تشویق شي په کوم کې چې د درسي کتابونو او تعلیمي میتودونو اصلاحات هم شامل دي.

CEDAW له غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې د ښوونې او روزنې په پلانونو کې نوښت راولي اوله هغی څخه د ښځو د حالت د ښه والي په لاره کې د یوې وسیلې په توګه ګټه واخلي.

**دکار په ځای کې حقوق**

**یولسمه ماده** د کار په ځای ګې د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو په باره کې ده. یولسمه ماده درې برخې لري:(۱) د ښځو دکار حق؛ (۲) د ماشوم د زیږدنې په خاطر د تبعیضي چلندونو د له منځه وړلو له لارې د کار د حق تأمینول؛(۳) د کار حمایوي قوانین.

<u>**دکار حق**</u>

**د ۱۱ مادې د۱ فقرې د (الف)بند** کار د بشر یو نه بیلیدونکئ حق بولي، ښځې حق لري په ازاده توګه د ځان لپاره ګټه راوړونکئ کار خوښ کړي. له همدې کبله پر هغوی باندې هیڅ ډول حقوقي محدودیتونه نشي ایښودل کیدای.

د کار د حق په اړوند د ښځو د موقف په هکله دا حکم یو ډیر مثبت ګام دئ او په ټوله نړی کې د ښځو لپاره د کار په شرائطو کی بدلون راوستلئ شي. دا اټکل شوئ دئ چې په نړی کې د ټولو کارونو دریمه برخه د ښځو له خوا ترسره کیږي. مګر ددې کارونوډیره برخه د پیسو په بدل کې نده. د ښځو بې معاشه کار باید د ډیرو هیوادو د اقتصاد د یوې بنسټیزه برخې په توګه وپیږندل شي.

## مساویانه امکانات

**د۱۱ مادې د۱ فقرې د(ب)بند** د کار د حق دوهمه برخه تعریف کړیده چې هغه د کارموندلو په وخت کې د مساوي امکاناتو نه د ګټې اخیستنې حق دئ. د مساویانه امکاناتو حق د اشتغال له مساوي شرائطو نه نیولې دکار لپاره دروزنې تر حق پورې غزیدلئ دئ.

## داستخدام د شرائطو تساوي:

**د۱۱ مادې د۱ فقرې د(ج)بند** د مسلک د غوره کولوحق،دکار د خوندیتوب او د اشتغال د ګټو حقوق په لاندې ډول ټاکلي دي:

**د مسلک او کار د غوره کولو ازاد حق،دترفیع حق،دکار د خوندیتوب او د اشتغال له ګټو نه د برخه اخیستنې حق،د لوړو مسلکي زده ګړو او دوامداره زده کړو په شمول د مسلکي روزنې او بیا روزنې حق.**

CEDAW د ښځو لپاره ددې حق په هکله ډیر واضح او روښانه دئ.

## مساوي معاش

**د ۱۱ مادې د ۱ فقرې د (د) بند** د مساویانه معاش اومساویانه ګټو او مساویانه چلند په هکله دئ چې

**د مساویانه ارزښت لرونکي کار په مقابل کې وي او همدا راز د کار د کیفیئت د ارزیابی په وخت کې مساویانه قضاوت وشي.**

دا عبارات مبهم ښکاري او کیدای شي چې پراخ شي تر څو غیرپولي ګټې هم پکی شاملی شي.

## ټولنیز خوندیتوب

**د ۱۱ مادې د ۱ فقرې د(هـ) بند** د هغو ښځو لپاره چې د بیلابیلو علتونو له مخې بیکاره دي د یوه ټولنیز خوندیتوب سیستم ته ګوته نیسي لکه،

**د تقاعد،بیکاری،ناروغتیا،معیوبیت،دسن د لوړوالي او د کار کولو د ناتوانی په نورو حالاتو کې او همدا راز د با معاشه رخصتی حق**

دا شرائط د ټولو ښځو لپاره د تطبيق وړ ندي ، په خاصه توګه هغه ښځې چې د غیرپولي کار په سکتور کې وي. د ټولنيز خونديتوب دا حقوق ځینی محدوديتونه لري او يوازې په پرمختللو صنعتي هيوادو کې چېرې چې د ټولنيز خونديتوب مقررات او د لازمو مادي امکاناتو د برابرولو ميکانيزمونه موجود دي په اسانی سره تطبيق کيدای شي.

**روغتيا او مصئونيت**

**د۱۱ مادې د۱ فقرې د(و)بند** حکم کوي چې ښځې د کار د صحي او مصئونو شرائطو حق لري له هغې جملې نه د ښځو د مورګلوی د وظايفو ساتنه او حمايت.

**مورګلوي**

**د۱۱ مادې د۲ فقره** غړي هيوادونه مکلف بولي چې د مورګلوی په اساس د تبعيض د مخنيوي لپاره ضروري ګامونه اوچت کړي او د ښځو لپاره د هغوی د کار حق په اغيزمنه توګه تأمين کړي. غړو هيوادونو موافقه کړيده چې د حاملګی او يا د مور ګلوی پر اساس له کار څخه ګوښه کول او يا د مدني حالت پر اساس له کاره تبعيضی ګوښه کول منع کړي. دو لتونو موافقه کړيده چې د مورګلوی په وخت کې د ښځو رخصتي ، معاش او نوری ټولنيزې ګټې حواله کړي. غړو هيوادونو په دی هم موافقه کړيده چې د مورګلوی د رخصتي په اخيستلو سره ښځو ته کارته د بيرته راتګ حق او د هغوی د سابقه داري خوندي ساتل کيږي. بر سيره پر دی غړو هيوادونو دا هم منلې ده چې هغه ټولنيز خدمات تشويق کړي کوم چې پلرونو او ميندو ته اجازه ورکوي کورني مسئوليتونه له اقتصادي فعاليت سره هم غږه کړي. د(۱۱)مادې (۲)فقره په خاص ډول د ماشوم د سوکالی د خدماتو د يوه سيستم د جوړولو يادونه کوي. په پای کې هغو حامله ښځو ته دې د ژغورنې خاص امکانات برابر شي د کومو روغتيا ته چې د کار شرائط ګواښ جوړوي.

**د کار د خونديتوب قوانين**

**د ۱۱ مادې ۳ فقره** حکم کوي چې:

**په دې مادې پورې اړونده د کار د خوندیتوب قوانین باید د علمي او تکنولوژیکې پرمختیا په رڼا کې په نوبتې ډول و څیړل شي او د ضرورت په صورت کې اصلاح،بدل او یا تمدید شي.**

**عامه روغتیا**

**د ۱۲ مادې** له مخې ښځې د عامې روغتیا له خدماتو نه د استفادې مساوي حق لري. دا ماده د بې تبعیضه احکامو تر څنګ په دې امر هم ټینګار کوي چې د ښځو لپاره دی د امیندواری(حاملګي) او د ماشوم د زیږیدو په حالاتو کې خاص کومکونه برابر شي او ماشوم ته د شیدو ورکولو په دوره کې ښځو ته لازم غذائي مواد ورسیږي.

**نور اقتصادي او ټولنیز حقوق**

**۱۳ ماده** ټولو هغو نورو اقتصادي او ټولنیزو حقوقوته اشاره کوي کوم چې په تړون کې ندي مشخص شوي، بالخصوص:

**(الف) کورنیو ته له مرستونه د ګټې اخیستنې حق**
**(ب) له بانکونو څخه د رهني او نورو مالي پورونو د لاسته راوړلو حق**
**(ج) په تفریحي فعالیتونو ،سپورت او د کلتوري ژوند په ټولو اړخونو کې د ګډون حق.**

**دکلیو او بانډود ښځو حقوق**

**۱٤ ماده** په بانډو کې د ښځو ستونزو ته اشاره کوي
**د١٤ مادې ١ فقره** له غړو هیوادو څخه غواړي چې په کلیو او بانډو کې د ښځو خاصو ستونزو او همدا راز د هغوی هغه خورا مهم رول ته چې د خپلو کورنیو د معیشت لپاره ئی د بیمعاشه سکتور په برخه کې لوبوي پاملرنه وکړي، برسیره پردې غړي هیوادونه ژمنه کوي چې په بانډو کې د CEDAW د احکامو د تطبیقولو لپاره لازم ګامونه اوچت کړي.

**د۱٤ مادې ۲ فقره** د غړو هیوادوڅخه غواړي چې په کلیو او بانډو کې د ښځو د لاندینیو حقوقو تأمینول تضمین کړي:

**(أ) د پرمختیائي پلانونو د جوړولو او تطبیقولو په ټولو سطحو کې ګډون؛**
**(ب) له لازمو روغتیائې اسانتیاوؤ څخه ګټه اخیستنه، له هغې جملې نه روغتیائي اطلاعات، طبي مشورې او د کورنیو رهنمائي؛**
**(ج) د ټولنیز خوندیتوب له پروګرامونوڅخه مستقیمه استفاده؛**
**(د) د هر ډول ښوونې او روزنې ترلاسه کول، که رسمي وي او یا غیررسمي، د هغې جملې نه د سواد زده کړه او د ښځو د تخنیکي اغیزمنتوب لپاره د ټولو محلي خدماتو نه ګټه اخیستل؛**
**(ه) د اشتغال او شخصي اشتغال له لاری اقتصادي امکاناتو ته د رسیدو لپاره د کوپراتیفونو او همکارو ډلو جوړول؛**
**(و) په ټولو محلي فعالیتونو کې ګډون ؛**
**(ز) له زراعتي پورونو او کریدیټونو، مارکیټي امکاناتو او لازمو تخنیکي وسایلو څخه ګټه اخیستنه او د ځمکو د ویش او زراعتي اصلاحاتو په پروسو کې مساویانه ګډون؛**
**(ح) د اوسیدلو د مساعدو شرائطو درلودل، بالخصوص کور،نظافتي تسهیلات، بربښنا او اوبه، ترانسپورت او مخابرات.**

د اقتصادي او ټولنیزو حقوقو په شان د کلیو او بانډو د ښځو حقوق هم موخه ائزه بڼه لري. هغوی په حقیقت کې د هیوادونو لپاره د راتلونکو سیاستونو بنسټ ږدي. د نارینو سره په مساویانه توګه د کوپراتیفونو د جوړولو او دزراعتي کریدیټونو او پورونو د ترلاسه کولو حق ښځو ته د اقتصادي ازادۍ امکانات مساعدوي.

## مدني حقوق

د بشري حقوقو په نړیوال قانون کې د مدني حقوقو ساحه ډیره پراخه ده او له سیاسي حقوقو سره یو ځای د ICCPR (د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون) یوه قانوني مجموعه جوړوي. په ICCPR کې د ژوند حق او شخصي خوندیتوب، د محکمو په وړاندې د افرادو حقوقو، د تفکر او عقیدې ازادي، په ټولنو او سازمانونو کې د ګډون حق،

د واده او د کورنۍ د جوړولو حق او د قانون په وړاندی د تساوي حق په تفصیل سره بیان شوي دي. دا ټول حقوق د ښځو او نارینو لپاره په مساوي ډول تضمین شوي دي.

د CEDAW د تړون (۱۵) ماده پورتني حقوق په دومره تفصیل سره نه بیانوي او یوازی هغو څلورو ساحو ته پاملرنه کوي په کومو کی چی په عنعنوي توگه ښځې د تبعیضي چلند سره مخامخ دي.
**د ۱۵ مادې ۱ فقره** حکم کوي چې ښځې له نارینو سره د قانون په وړاندې مساوي دي. دا حکم د متأهلو ښځو په باب خاص اهمیت لري، ځکه کیدای شي چې تر واده وروسته د هغوی حقوق زیانمن شي، خو دا حکم د ټولو ښځو لپاره مهم دئ ځکه پخوا په ډیرو حقوقي سیستمونو کې ښځې د حقوقي اشخاصو په توگه نه پیژندلې کیدې.

**د ۱۵ مادې ۲ فقری** ښځو ته له نارینو سره مساوي موقف ورکړئ او هغوی ته اجازه ورکوي چې قراردادونه لاسلیک او شخصي ملکیت اداره کړي. په ټولو محاکمو او جزائي دیوانونو کې باید له ښځو سره هماغه چلند وشي چې له نارینو سره کیږي.

د یادولو وړ ده چې **د ۱۵ مادې په ۲ فقره** کې هغه حالات په نظر کې نیول شوي چیرې چې حقوقي سیستمونو د افرادو له خوا د قراردادونو د لاسلیک کولو او دملکیت د ادارې حقوق په رسمیت پیژندلي دي. او همدلته ده چې د نارینو او ښځو پر مساوي حقوقو ټینگار شوئ دئ. دا حکم د هغو حقوقي سیستمونو لپاره خاص اهمیت لري په کومو کې چې ښځې نشي کولئ د پلار او یا میړه له اجازې پرته قرارداد لاسلیک کړي او چیرې چې تر واده وروسته د ښځې ملکیت پر میړه پورې اړه نیسي. پنځلسمې مادې دا ډول چلندونه منع کړي دي.
**د ۱۵ مادې ۳ فقره** د هغو قراردادونو او ټولو نورو شخصي قانوني اغیزه لرونکو موافقو په هکله ده کومې چې د ښځو قانوني حقوق محدودوي. دا ډول قراردادونه او موافقې باید فسخ او منع شي. د (۱۵) مادې (۳) فقره هغو قراردادونو ته اشاره کوي په کومو کې چې ښځې خپل حقوقي موقف بل چا ته سپاري. پدې ترتیب هغه رسم او رواجونه د کومو له مخې چې میړه د ماندینې د ملکیت اداره کوي منع شویدي. په همدې ډول هغه موافقې چې د حقوقي وکیل له خوا ثبت شوی وي او د هغو له مخې د ښځو د قرارداد د لاسلیک کولو او د خرڅلاو او پیرودلو حقوق محدود شوی وي غیر قانوني بلل کیږي.

**د ۱۵ مادې په ٤ فقره کې** راغلي چې ښځې د کډې کولو او تگ راتگ او د کور او تاټوبي د غوره کولو په قوانینو کې مساوي حق لري ، له دې حکم سره د ځینو غړو هیوادونو د

مخالفت سره سره د CEDAW په سریزه کې ټینګار شویدئ چې د ښځو او نارینو پوره مساوات ته درسیدو لپاره په ټولنه او کورنۍ کې د هغوی په عنعنوي رولونو کې بدلونونو ته ضرورت شته.

**دکورنۍ قانون**

په ټرون کې په کورنۍ پورې د اړونده احکامو شاملول د ښځو د حقوقو په نړیواله پیژندنه کې یو مهم ګام دئ.

**د ۱٦ مادې ۱ فقره** حکم کوي چې غړي هیوادونه باید په " واده او کورنیو اړیکو پورې په ټولو اړونده مسائلو کې د تبعیض له منځه وړل تأمین کړي، او په خاص ډول غړي هیوادونه دی د ښځو او نارینو د لاندینیو حقوقو ساتنه خوندي کړي:

أ) د واده کولو مساوي حق

ب) د میرمن یا میړه د انتخاب ازاد او مساوي حق او په ازاد او کامل رضایت واده کول؛

ج) د واده کولو او د هغه د انحلال په وخت کې د مساویانه حقوقو او وجائبو لرل؛

د) د پلار او مور په صفت د مساویانه حقوقو او مسئولیتونو درلودل، او د مدني حالت په نظر کې نیولو نه پرته په ټولو حالاتو کې باید د ماشومانو ګټې لوړې وګڼل شي؛

ه) د کوچنیانو د شمار او د هغوی د تفاصل په هکله د ازادې پریکړې نیونې مساوي حق او همدا رازله اطلاعاتو، ښوونې او روزنې او له دې حق نه د استفادې لپاره د امکاناتو برابرول؛

و) د ماشومانو د سرپرستۍ ، کفالت او فرزندي کولو په هکله مساوي حقوق او مسئولیتونه ، په پورتنیو او یا ورته حالاتو کې باید د ماشومانو ګټې تر ټولو لوړې وګڼل شي؛

ز) د ښځې او میړه په توګه د مساوي حقوقو درلودل، له هغې جملې څخه د تخلص،مسلک او د کار د انتخاب حق؛

ح) دواړو ښځې او میړه ته د مالکیت د اخیستنې، تنظیم،ادارې،استفادې او یا پریښودلو (که وړیا وي او یا د مالي ارزښت په بدل کې) په وخت کې مساوي حق.

د ۱٦ **مادې** اهمیت پدې کې دې چې غړي هیوادونه ژمنه کوي د ښځو او نارینو تر منځ عنعنوي ټولنیزو او کلتوري چلندونو ته بدلون ورکړي. د کورنۍ قانون ددغو اصولو د بیانولو یوه وسیله ده نوځکه هم ښځو ته د مساوي حقوقو برابرول په کورني ژوند کې خورا اهمیت لري.

**د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو کمیټه**

**۱۷-۲۲ مادې** د ښځو پر ضد د تبعیض د له منځه وړلو دکمیټې له خوا د CEDAW د پلی کولو په باره کې دي. دا کمیټه له هغو ماهرانو څخه جوړه شویده چې د غړو هیوادونو له خوا ټاکل شوي دي او کوم چې د دولتي صلاحیت له مخې نه بلکه د خپل شخصي دریځ په استناد عمل کوي. د کمیټې په ترکیب کې جغرافیایي ملحوظات او دبیلابیلو حقوقي سیستمونو استازیتوب په نظر کې نیول شویدئ.

**۱۷ ماده** د کمیټې د انتخاباتو په باره کې ده چې د تړون تر انفاذ ٦ میاشتې وروسته صورت مومي.

**۱۸ مادی** د کمیټې وظایف تعین کړیدي چې هغه د دولتونو له خوا د سپارل شوو رپوټونو څیړنه او د همدې رپوټونو د سپارلو د مهال ویش جوړول دي. د هیوادونو رپوټونه د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته سپارل کیږي چې وروسته بیا د کمیټې له خوا څیړل کیږي او باید لاندې موارد پکې شامل وي:

**تقنیني، قضائي،اداري او نور هغه تدابیر چې هیوادونو د تړون د پلی کولو په خاطر نیولي وي او د هغو د پرمختګ په هکله رپوټ:**

**أ) د تړون تر انفاذ نه یو کال وروسته؛**

**ب) تر هغې وروسته په هرو څلورو کلونو کې یو ځل او وروسته هم هر کله چې کمیټه ئې وغواړي.**

**۱۹ ماده** د کمیټې د اداري او د هغې د فعالیت د طرزالعمل او همدا راز د ۲ کالو لپاره د خپلو غړو دانتخاب په باره کې ده.
**۲۰ مادې** توضیح کړیده چې کمیټه د رپوټونو د څیړلو لپاره په هر کال کې غونډه کوي چې تر دوو اونیو زیات دوام ونه لري.

د ۲۱ **مادې د ۱ فقرې** له مخې کمیټه د اقتصادي او ټولنیزې شورا(ECOSOC) له لارې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته :

**د خپل فعالیت په هکله کلنۍ رپوټ ورکوي او د غړو هیوادونو د رپوټونو او معلوملتو د څېړلو په هکله عمومي پیشنهادات وړاندې کوي. دا عمومي پیشنهادات له هغو تبصرو سره چې که چیرې د غړو هیوادو له خوا وړاندې شوې وي یو ځای د کمیټې په رپوټ کی شاملیږي.**

**د ۲۱ مادې ۱ فقره** حکم کوي چې:

د ملګرو ملتونو عمومي سر منشي باید د کمیټې رپوټ د ښځو د حالت کمیسیون ته د معلوماتو لپاره وړاندې کړي.

**۲۲ ماده** هغو خاصو مؤسسو ته چې په ساحاتو کې فعالیت کوي د کمیټې له خوا د تړون د عملي کیدو د څیړنې په وخت کې د نماینده ګۍ حق ورکوي.
**نهایي احکام**

**۲۳-۳۰ مادې** د تړون نهایي احکام دي. **۲۳ ماده** د ښځو د موقف په هکله د کورنیو او د بشر د حقوقو د نړیوالو قوانینو د احکامو او د تړون د موادو تر منځ د اړیکو په باب ده. ۲۳ ماده تصریح کوي چې د تړون هیڅ حکم نشي کولای پر هغو احکامو ( که کورني وي او یا بین المللي) اغیزه وکړي کوم چې د ښځو او نارینو تر منځ مساوات ته درسیدو لپاره ډیر مرسته کوونکي وي.

**۲٤ ماده** له ټولو غړو هیوادو نه غوښتنه کوي چې په ملي سویه په تړون کې د ذکرشویو حقوقو د تأمین لپاره له ټولو ضروري تدابیرونه کار واخلي.

**۲٦ ماده** غړو هیوادو ته په تړون کې د اصلاحاتو د راوستلو حق ورکوي. ددې ډول غوښتنې په ځواب کې به د ملګرو ملتونو عمومي غونډه د لازمو ګامونو د اوچتولو پریکړه کوي.

د **۲۸ مادې** له مخې د تړون د عملي کولو په هکله د شرائطو او ریزرفیشن وړاندې کول مجاز دي. مګر د همدې مادې د **۲ فقرې** له مخې هغه شرائط او ریزرفیشن چې د تړون د "هدف او مرام" سره تطابق ونه لري د منلو وړ نه دي. د ۲۸ مادې پاتې برخه د ریزرفیشن د منلو او یا لیرې کولو په باب د ملګرو ملتونو سر منشي ته د اطلاع ورکولو د طرزالعمل په باره کې ده.

**۲۹ ماده** حکم کوي چې د تړون د تعبیر او یا تطبیق په وخت کې رامنځته شوي اختلافونه باید د خبرواترو له لارې او یا د یوې خوا په غوښتنه د حکمیت له لارې حل او فصل شي. که چیرې یوه خوا له حکمیت سره موافقه ونه کړي نو غړي هیوادونه حق لري چې موضوع بین المللي محکمې ته وسپاري. د یادولو وړ ده چې تړون غړو هیوادو ته په ډاګه دا حق ورکړئ چې ددې مادې په هکله ریزرفیشن وړاندې کړي.

## (ج) خپلخوښې پروتوکول

د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په شپږمه نیټه د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلو د تړون په اړوند په یوویشتو مادو کې د خپلخوښې پروتوکول تدوین کړ. ددې پروتوکول په راتیفیکیشن سره یو دولت د ښځو پر ضد د ټولو تبعیضونو د له منځه وړلود کمیټې دا صلاحیت پرځان مني چې د هغه هیواد په قلمرو کې د ښځو انفرادي او ډله ایز شکایتونه راټول او څیړنه یې وکړي. افغانستان تراوسه پورې دا پروتوکول ندی لاسلیک کړی.

دا پروتوکول دوه طرزالعملونه لري

(۱) د مکاتبې طرزالعمل چې انفرادي ښځو او یا د ښځو ډلو ته اجازه ورکوي تر څو په تړون کې پر خپلو خوندي شوو حقوقو باندې د تیري په باب کمیټې ته شکایت وکړي.

پروتوکول د کمیټې له خوا د شکایتونو د منلو او څیړلو شرائط ټاکلي دي او له هغه څخه یو شرط دادئ چې لمړئ باید د هیواد د ټولو کورنیو امکاناتو څخه استفاده شوې وې.

(۲) پروتوکول د پلټنې طرزالعمل هم جوړ کړی دی چې د هغه له مخې کمیټه کولئ شي د ښځو پر حقوقو د سیستماتیک او سختو تیریو په حالاتو کې پلټنې پیل کړي.

په دواړو حالاتو کې دولتونو باید تړون او د هغه پروتوکول لاسلیک کړئ وي. پروتوکول یوه فقره لري چې دولتونو ته د تړون د منلو او لاسلیک کولو په وخت کې دا اجازه ورکوي چې د پلټنو د طرزالعمل نه منل اعلان کړي. د پروتوکول ۱۷ می مادې دا په ډاګه کړي ده چې د هغې په شرایطو کې د هیڅ ډول ریزرفیشن اجازه نشته.

د خپلخوښې پروتوکول د ۲۰۰۰ کال د دسمبر په ۲۲ مه نیټه نافذ شو او تر اوسه پوری یې شپږ (٦) پریکړې(ملاحظات) تدوین کړې دي. همدا راز کمیټې د پروتوکول د اتمې مادی سره سم د ۲۰۰٤ کال په جولای کې د مکسیکو په باره کې خپله لومړۍ پلټنه بشپړه کړه.

## د) حقوقي موارد

په هغو هیوادو کې چې قضائي نظام با اعتباره وي او حقوقي فیصلو ته مقدم ارزښت ورکول کیږي د قضائي دعوی له لارې د حقوقو تثبیت ډیر اغیزمن وي. ګه چیرې قضائي دعوی د یوې ازمویني په توګه په سمه برابره شوې وي نو حتی د هغې د بایلودلو په صورت کې هم دا ثابتیږي چې د قانون د اصلاحاتو او یا د قاضیانو د بدلیدلو لپاره ضرورت شته. ازمویونکې قضیه هغې قضیې ته وائي په کومه کې چې یو نوئ اصل وړاندې شوئ وي او یا هم معمولاً د یوې تجرید شوې او مظلومې ډلې حقوق تمدید شوي وي.
ځینې وخت یوازې یوه ازمویونکې قضیه کولې شي لوی حقوقي بدلون راولي. نو ځکه هم تبلیغات د ازمویونکو قضیو ډیر مهم عنصر دئ او په خلکو او سیاسي رهبرانو باندې تربیتي اغیزه لري.

**بوتسوانا: لوی څارنوال د یونیتي داو په مقابل کې**

د بوتسوانا پدي قضیه کې د هغه هیواد په اساسي قانون کې د تابعیت په تبعیضي احکامو باندې د یونیتي داو د اعتراض په نتیجه کې حکومت مجبور شو د هغو ارزښتونو په نه عملي کولو اعتراف وکړي کوم چې ئې پخپله اعلان کړي ؤ. د یونیتي داو په قضیه کې شخړه د اساسي قانون د یوه حکم د تفسیر په سر وه چې پکې داسې راغلي ؤ:" په بوتسوانا کې ټول افراد د جنس ... له توپیر نه پرته اساسي حقوق او ازادی لري" .

عرض کوونکې یوه میرمن وه چې د بوتسوانا تبعه او د یوه امریکائي ماندینه وه. دوی درې ماشومان درلودل چې له هغو څخه دوه ئې په بوتسوانا کې د مدني قانون تر بدلون وروسته زیږیدلي ؤ. د همدې قانون له مخې هغه ماشومان چې تر واده مخکې زیږیدلي وي یوازې د هغوی د پلار د تابعیت د هیواد ملیت تر لاسه کوي. د عرض کونکې کوچنیانو په خپل د زیږیدنې هیواد کې یوازې د اقامت د اجازه نامې له مخې اوسیدلای شول، د کومې د لاسته راوړلو لپاره چې د هغوی پلار باید عریضه کړې وای او هغه ئې په نوبتي توګه تمدید کړی وای. د قانون په وړاندې کوچنیانو د بوتسوانا د اتباعو سره مساوي امتیازات نه درلودل او د وړیا لوړو زده کړو او په انتخاباتو کې د ګډون حق ئې نه درلود. عرض کونکې نه شو کولای د هیواد نه بهر سفر وکړي ځکه چې د قانون له مخې کوچنیانو د هغوی په پلار پورې اړه درلوده او یوازې د پلار له پاسپورت سره ئې د سفر اجازه درلوده.

برسیره پر دې که چیرې د عرض کونکې میړه د بوتسوانا د تابعیت غوښتنه کړی وای نو ددې پروسې مقتضیات د هغو حالاتو په پرتله ډیر ګران ؤ په کومو کې چې د بوتسوانا د اتباعو بهرنیو ماندینو د تابعیت غوښتنه کوله.

عرض کونکې ادعا ددرلوده چې د تابعیت قانون داساسي قانون سره په تضاد کې دئ. هغه مدعي وه چې د قانون له خوا هغه د خپلې کورنۍ غړو ته د خپل تابعیت د ورکولو له هغه حق څخه چې نارینه ئې لري محرومه شوی ده او د قانون په وړاندې د هغې د بې تبعیضه او مساوي خوندیتوب پر حق باندې تیرې شوئ دئ.

لوی څارنوال استدلال کاوه چې اساسي قانون باید د موجودو واقعیتونو په رڼا کې ولوستل شي او له ښځې سره د میړه د یوې ضمیمې په توګه چلند د روانو ټولنیزو واقعیتونو انعکاس دئ ځکه چې د بوتسوانا ټولنه فطرتأ یوه محافظه کاره او تبعیضي ټولنه ده. محکمې فیصله وکړه چې د تابعیت قانون له اساسي قانون سره په تضاد کې دئ ځکه چې د ښځو پر ضد تبعیض لري او هغوی له اساسي ازادیو څخه محروموي لکه د کډې کولو او تګ راتګ ازادي او د تحقیرکونکي چلند څخه د خلاصون ازادي.

پدې قضیه کې د بشر د حقوقو د نړیوال قانون د نورمونو له مخې د اساسي قانون تفسیر یو ګران کار ؤ ځکه چې بوتسوانا د بشر د حقوقو د نړیوال قانون یو تړون هم نه ؤ منلئ ، یوازې د افریقا د خلکو او ولسونو د حقوقو د منشور په استثنأ. محکمې دا ستونزه د افریقا د منشور د سریزې په اتکأ او د بوتسوانا له خوا د ښځو پر ضد د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو د اعلامئې ( چې د CEDAW د تړون ابتدائي سند ؤ ) د لاسلیک کولو په استناد حل کړه.

دا فیصله مرافعې ته ولاړه چې په ۱۹۹۲ کال کې د محکمې لومړنۍ فیصله تائېده شوه. پدې ډول د عرض کونکې قضیه د اساسي قانون د تضمینونو یوه ازمویونکې قضیه ده او ثابته ئې کړه چې په معاصره دموکراتیک سیستم کې ښځې باید له نارینو سره د خپل ځان او خپلې کورنۍ په هکله د پریکړې نیونې مساوي صلاحیتونه ولري.

**هند: د شاه بانو قضيه**

په ۱۹۷۵ کال کې د شاه بانو مېړه خپله مېرمن چې څلويښت کاله ئې ورسره ګډ ژوند کړئ ؤ له کور نه وويستله. په لومړي سر کې ئې هغې ته يو څه پيسې د نفقې په نامه ورکولې چې وروسته بيا هغه هم بندې شوې. په ۱۹۷۸ کال کې شاه بانو د خپل غربت او خوارۍ د مخنيوي لپاره د هند د جزائي اجراأتو د قانون له مخې په محکمه کې دعوه وکړه او د مياشتې ۵۰۰ روپيو نفقې غوښتنه ئې وکړه. د همدې دعوی د جريان په ترڅ کې مېړه ئې هغه طلاقه کړه. مېړه ئې هغې ته ۳۰۰۰ روپۍ چې د واده په وخت ګې ئې محر وربانده ايښې ؤ بيرته ورکړې او دنفقې له ورکولو څخه ئې ډه ډه وکړه.

قاضي دهند د جزا د قانون له مخې په مېړه حکم وکړ چې د مياشتې ۲۵ روپۍ هغې ته ورکړي. لوړې محکمې دا مبلغ ۱۷۹.۲۰ روپيو ته لوړ کړ. مېړه د محکمې له دې حکم سره مخالفت وښود او د مرافعې غوښتنه ئې وکړه. هغه ادعا کوله چې دې يو مسلمان دئ او کورنۍ شخړې د اسلامي قانون له مخې بايد و څيړل شي. هغه ټينګار کاوه چې د اسلامي قانون له مخې مېړه مانديڼې ته تر طلاق وروسته د نفقې په ورکولو مکلف ندې او يوازې د هغې محر بيرته ورکوي. ده دا هم يادوله چې د اسلام قانون د جزائي اجراأتو تر قانون لوړ دئ.

په ۱۹۸۵ کال کې سترې محکمې د مېړه مرافعه غوښتنه رد کړه او فيصله ئې وکړه چې د مانديڼې د غربت او خوارۍ نه د مخنيوي په خاطر د نفقې ورکول د اسلامي قوانينو سره مخالفت نلري. که چيرې مانديڼه د عدت (تر طلاق د مخه بيليدنه) په دريو لومړيو مياشتو کې د ځان نفقه تأمين نشي کړاي، نو کولئ شي چې د جزائي اجراأتو غوښتنه وکړي.

د شاه بانو قضيه په هند کې د لسيزې تر ټولو کړکيچنه قضيه وه او دا ئې جوته کړه چې د جنوبي اسيا ولسونه د ښځو لپاره د هغوی د بشري حقوقو په تأمينولو کې له څومره ستونزو او کړکيچونو سره مخامخ دي. د ښځو پر ضد د تبعيض د له منځه وړلو د تړون ۱٦ ماده پدې برخه کې صدق کوي، دا هغه ماده ده چې هند په ۱۹۸۰ کال کې د تړون دلاسليک په وخت کې د هغې په هکله ريزرفيشن اعلان کړئ ؤ.

ددې قضيي د جريان په ترڅ کې هند په نړيواله سويه د تړون د احکامو د منلو مکلفيت نه درلود. دغه هيواد په ۱۹۹۳ کال کې بيله شرطه د CEDAW تړون لاسليک او اوس دهغه د پوره متن د منلو متعهد دئ.

## هـ) نتیجه

د CEDAW هدف د ښځو پر ضد په هر زمان او مکان کې د تبعیض د ټولو بڼو له منځه وړل دي. برسیره پر دې ترون غواړي په ټوله نړۍ کې داسې یوه ټولنه جوړه کړي چیرې چې له ښځو سره د نارینو سره مساوي چلند وشي، داسې ټولنه چیرې چې عنعنوي تعصبات او رسم او رواجونه تر سوال لاندې راشي او د مساویانه چلند معیارونه رامنځته شي. په CEDAW کې مشخص شوي وجائب نه، بلکه عمومي اصول توضیح شویدي.

په ترون کې د یادشوو اصولو پلی کول په ملي قوانینو کې د داسې کړنلارو او پروګرامونو رامنځته کولو ته ضرورت لري کوم چې وکولای شي ددې اصولو اغیزمن تطبیق تأمین کړي. ترون له غړو هیوادو نه د ښځو د حقوقو د تأمینولو په لاره کې د ټولنې په ټولو برخو کې د پراخو ژمنو غوښتنه کوي. که چیرې غړي هیوادونه د ترون په وړاندې خپلو وجائبو ته په جدیت سره وګوري نو کیدای شي د ډیرو نویو کړنلارو او بدلونونو د پیل کیدو زمینه مساعده شي. دا ترون ښځو ته د هغوی د حقوقو د په رسمیت پیژندنې په مبارزه کې یوه ډیره ګټوره وسیله ده.

CEDAW د ښځو حقوقو ته له بیلابیلو لارو پرمختیا ورکوي. دا سند هغه ساحې راسپړي چیرې چې د ښځو پر ضد تبعیض په پراخه پیمانه څرګند وي او ښځې تر هر ځایه زیات د حقوقو تضمینونو ته ضرورت ولري. ترون په دولتي پریکړه نیونکو مقاماتو کې د ښځو د مساویانه ګډون او همدا راز په کورنیو کې د ښځو د مساوي حقوقو د تأمینولو په برخو کې په خپلو احکامو سره هڅه کړېده هغه بیلوالئ چې په نړیوالو حقوقو کې د عامه او شخصي مسائلو تر منځ جوت دئ له منځه یوسي.

# دریم فصل: د ماشوم د حقوقو تړون

## الف) سریزه

په نړیوالو بشري حقوقو کې د ماشومانو د حقوقو پرسمیت پیژندنه یو تاریخي تحول دئ. نړیوالې ټولنې د ماشوم د حقوقو په هکله داسې معیارونه ټاکلي چې د بیلابیلو کلتوري عنعناتو منعکس کونکي دي او د حقوقو یو پراخ بهیر ئې په یوه واحده معاهده کې رانغښتی دي. پدې عمل سره نړیوالې ټولنې د ماشومانو په وړاندې خپل مسئولیت څرګند کړئ او په بین المللي او ډیپلوماتیکو ډګرونو کې ئې هغوی ته پاملرنه زیاته کړیده.
په بین المللي حقوقو کې ماشومانو ته د مستقلو افرادو او د ټولنیزو اړیکو د ګډون کوونکو په سترګه کتل کیږي. هغوی له کورنیزو واحدونو څخه خپلاوک حقوق لري او د هغو اشتراکي حقوقو خاوندان هم دي چې په دودیزه توګه له کوچنیتوب سره تړاو نه لري لکه په ټولنو او سازمانونو کې د ګډون کولو ، د عقیدې د بیانولو او د مذهب حقوق.
د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې په ۱۹۸۹ کال کې د ماشوم د حقوقو تړون تدوین کړ. دا تړون دوه موخې لري ، لومړی دا چې د ماشوم په اړوند د بشري حقوقو ټول معیارات په یوه واحد سند کې را ټول کړي او دوهم داچې له دې حقوقو څخه په مساویانه توګه د ګټې اخیستنې حق تضمین شي. په CRC کې د حقوقو ساحه ډیره پراخه ده او د ماشوم د ژوند ټول اړخونه او د هغه د ودې ټول پړاونه ئې احتوأ کړي دي.
د ماشوم د حقوقو تړون ٥٤ مادې لري چې له هغو څخه ٤٠ ئې بنسټیزه مادې دي د کومو له مخې چې دولتونو موافقه کړیده د ماشوم حقوق په مدني،سیاسي،اقتصادي،کلتوري او ټولنیزو ساحو کې تضمین کړي. د CRC مرکزي مفهوم دا دی چې ماشومان له لویانو سره مساوي ارزښت لري او همدې نظرئې د تړون په ټولو موادو کې انعکاس موندلې دئ.
د ۲۰۰۷ کال تر مارچ پورې ۱۹۳ هیوادونو (کوم چې د بشري حقوقو د تړونونو تر منځ تر ټولو لوړ رقم دئ) د CRC تړون لاسلیک کړئ دئ او دا د بشري حقوقو په ساحه کې تر ټولو زیات تفهیم شوئ واحد سند دئ. ددې تړون په توشیح کولو سره دولتونه مکلف دي چې خپل ملي قوانین ددې بین المللي معاهدې له اصولو سره هم رغه کړي.

افغانستان د ۱۹۹٤ کال د اپریل په ۲۷ مه نیټه د (CRC) تړون لاسلیک کړ او سمدلاسه یې دا اعلامیه صادره کړه:

اعلامیه

"د افغانستان د جمهوریت دولت د تړون په لاسلیک کولو سره د تړون د ټولو هغو موادو په هکله چې داسلامي شریعیت له اصولو او جاري قوانینو سره تطابق ونه لري خپل ریزرفیشن اعلانوي."[۲۰]

په دې تړون کې د بشري حقوقو ټولې برخې شاملې دي لکه مدني،سیاسي،اقتصادي،کلتوري او ټولنیز حقوق چې د څلور (پي) په اصولو سره توضیح شوي دي:

- د خپل برخلیک په باب د پریکړې په وخت کې د ماشوم **اشتراک** (participation)
- د تبعیض او هرډول بې توجهی او استثمارڅخه د ماشومانو **ژغورنه** (protection)
- ماشومانو ته د ضرر رسیدلو **مخنیوئ** (prevention)
- د ماشومانو داساسي ضروریاتو لپاره د مرستې **برابرول** (provision).

د ماشوم د حقوقو په اړوند د بین المللي معیارونو د تطبیقولو په وخت کې پاس څلور اصول په مساوي ډول ضروري دي.

## ب) د ماشوم د حقوقو تړون ( CRC )

د ماشوم د حقوقو په تړون کې خوندي شوي حقوق به د موضوعاتو له مخې وڅیړل شي ځکه چې ددي تړون ځینې مادې له نورو مادو سره ګډې دي.

**د ماشوم موقف**

**لومړی مادې د** ماشوم تعریف کړئ دې او توضیح کړې ئې ده چې د CRC په موخه:

---

۲۰ http://www.ohchr.org/english/countries/ratifications/۱۱.htm

**هر هغه انسان ته چې اتلس کلنۍ ته نه وي رسيدلئ ماشوم ويل کيږي، مګر داچه د قانون له مخې د بلوغ سن له دې نه کم تعين شوئ وي.**

د کوچنيتوب د پيل په باره کې د CRC تړون دا نه ده ټاکلې چې هغه له زيږيدو نه وروسته او يا تر القاح وروسته پيل کيږي. د کوچنيتوب د دورې د ختم په باب د ماشوم د حقوقو تړون انعطاف پذيري لري او دا پتيل شوېده چې غړي هيوادونه اجازه نه لري د بلوغ سن په غير مؤجه ډول ټيټ تعين کړي تر څو وکولې شي د تړون په وړاندې له خپلو وجائبو نه ځان ګوښه کړي. **لومړۍ مادې** پر دولتونو باندې دا بار ايښې دئ چې د بلوغ د سن را ټيټول مستدل کړي.

**د ۲ مادې ۱ فقره** له غيرتبعيضي احکامو څخه جوړه شوې ده او له غړو هيوادو نه غواړي په تړون کې د هر ماشوم د ثبت شوو حقوقو دره ناوئ وکړي او د هغو د تأمين لپاره بيله هر ډول تبعيضه
**د ماشوم او د هغه د والدينو د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، سياسي عقائدو، تابيعيت، مليت، ټولنيزو ريښو، ملکيت، معلوليت، زيږيدنې او يا نورو حالاتو په نظرکي نيولو نه پرته هڅه وکړي.**

برسيره پر دې **د ۲ مادې په ۲ فقره** کې له غړو هيوادو څخه غوښتل شوي دي چې ټول لازم تدابير په کار واچوي تر څو:
**د والدينو، قانوني سرپرست او يا د کورنۍ د نورو غړو د حالت،فعاليت،بيان کړو نظرياتو او عقيدو په سبب د هغوی د ماشوم د هر ډول تبعيض او مجازاتو مخنيوئ وکړي.**

**دماشوم غوره ګټې**

**۳ ماده** د تړون بنسټيزه برخه ده. دا ماده حکم کوي چې د ماشوم غوره ګټې بايد د ماشومانو په اړونده په ټولو فعاليتونو کې له لومړنيو ملاحظاتو څخه وي.

**د ۳ مادې په ۱ فقره** کې داسې راغلي دي:

**د ماشومانو په اړوند د تولنيزې سوكالۍ د خصوصي او يا عامه مؤسسو، محكمو، دولتي ادارو او يا قضائي اوركانونو د هر ډول پريكړې د نيولو په وخت كې بايد د ماشومانو كټې او حقوق د لومړنيو ملاحظاتو په توگه په نظر كې ونيول شي.**

**د ۳ مادې ۱ فقرې** څرګنده کړیده چې د ماشوم غوره ګټې په ځينو حالاتو كې د پاملرنې وړ يوازينې فكتور نه وي. د مثال په توگه د انفرادي ماشومانو،د ماشومانو د بيلابيلو ډلو او يا هم د ماشومانو او لويانو تر منځ د بشري حقوقو د ګټو د اختلافاتو په صورت كې. په دې ټولو حالاتو كې بايد دا وښودل شي چې د ماشوم غوره ګټې رابرسيره شوي او د لومړنيو ملاحظاتو په توگه په پام كې نيول شويدي.

**تر اعظمی سوئې پورې د امكاناتو برابرول**

**٤ ماده** غړو هيوادو ته د ماشوم د حقوقو د تړون د عملي كولو په لاره كې د تدابيرو تجويز كوي.
**٤ مادې** په څركنده توكه د اقتصادي،اجتماعي او كلتوري حقوقو د خوندي ساتلو په لاره كې تر اعظمي حده پورې له موجودو امكاناتو څخه ګټه اخيستل او د ضرورت په صورت كې د بين المللي همكارۍ په چوكاټ كې لازمو تدابيروته كوته نيولې ده.

**كورنۍ**

**٥ ماده** د غړو هيوادونو پاملرنه د پراخې كورنۍ،ټولنې او همدا راز د والدينو مسئوليتونو، حقوقو او وجائبو ته راګرزوي چې بايد له ماشوم سره د هغه د حقوقو په تعميل كې لازمه مرسته او لارښوونه وكړي. دا لارښوونه بايد د ماشوم د وده كوونكي ظرفيت سره متعادله وي.

**د ژوند حق**

د ماشوم د حقوقو د تړون **٦ مادې** د ماشومانو لپاره د ژوند ذاتي حق په رسميت پيژندلې او حكم كوي:

1. **غړي هيوادونه د ماشوم د ژوند ذاتي حق پرسميت پيژني.**

**۲. غړي هیوادونه تر اعظمي ممکن حده پورې د ماشومانو بقا او وده تأمینوي.**
که څه هم د ژوند حق د بشر د حقوقو په نورو نړیوالو تړونونو کې راغلئ دئ، مګر د ماشومانو د حقوقو له نظره د CRC په تړون کې یو ځل بیا وربانديې ټینګار شوئدئ تر څو د ماشوم د بقا او ودې حقوق او د نه وژل کیدو حق پکې شامل شي.

د٦ **مادې د ۲ فقرې** عبارات دا څرګندوي چې غړي هیوادونه باید د خپل مسئولیت په ساحه کې د ماشوم د بقا او ودې د حد د زیاتولو لپاره مثبت ګامونه اوچت کړي.
غړي هیوادونه باید د ماشوم د ژوند د ذاتي حق د خوندي ساتلو په خاطر په ځینو اقداماتو لاس پورې کړي لکه د ضرورت وړ خواړو او پاکو اوبو برابرول، داعدام د حکم منع کول او د قضائي سیستم نه دباندې د خودسرانه،تصادفي او جمعي اعدامونو او اجباري لادرکه کیدو مخنیوئ. د غړو هیوادو لپاره به دا ضروري وي چې د وسله والو شخړو د منفي اغیزو نه ماشومان خوندي وساتي او د دې ډول کړکیچونو قربانې ماشومانو ته د مجددې احیأ د امکاناتو په برابرولو لاس پوری کړي.

**هویت**

د ماشوم د حقوقو د تړون د **۸ مادې ۱ فقره** له غړو هیوادو نه غواړي چې

**د ملیت،نوم او کورنیو اړیکو په شمول د ماشوم د قانوني هویت د درلودلو د حق دره ناوي او ساتنه وکړي**

د هویت د ساتلو د اساسي اجزاؤ لست محدودیت نلري او CRC په کومه بله ماده کې هویت ندې تعریف کړئ.
په هغو حالاتو کې چې ماشومان د خپل هویت د ټولو او یا ځینو عناصرو نه په غیرقانوني توګه محروم شوي وي د تړون د **۸ مادې ۲ فقره** غړي هیوادونه مکلف بولي چې په لازمو مرستو او ژغورونکو اقداماتو لاس پورې کړي تر څو ژر تر ژره د هغوی هویت بیا تثبیت شي. د" غیر قانوني" اصطلاح د دي پاراګراف اصلي ټکئ دئ او په لاندې دواړو هغو حالاتو کې صدق کوي که چیرې د هویت سلبول د کورنیو قوانینو په رڼا کې غیرقانوني وي او یا هم کله چې د هویت سلبول د نړیوال قانون مخالف وي.

**۹ ماده** د ماشوم د یوه خاص خوندي ساتونکي حق یادونه کوي اوله کورنیو څخه د جلا شوو ماشومانو د حقوقو د ساتنې په باره کې ده. دا ماده حکم کوي چې دولتونه باید دا تأمین کړي چې یو ماشوم د هغه د خوښې پر خلاف د هغه له مور او پلار نه بیل نه شي، مګر کله چې باصلاحیته مقامات پدې باور وي چې دا بیلتون د ماشوم د غوره ګټو په خاطر د قانون تر نظارت لاندې او د مربوطو مقرراتو او طرزالعملونو په رڼا کې دي. محکمې، د ماشومانو د سوکالۍ مؤسسې او اداري مقامات د کوچنیانو د قضئو د څیړنې په وخت باید د ماشوم غوره ګټو ته د لومړنیو ملاحظاتو په سترګه وګوري.

## د برخه اخیستنې حقوق

**۱۲ – ۱٦ مادې** د په اصطلاح برخه اخیستنې د حقوقو په هکله دي چې د بیان ازادي، د مذهب ازادي، په ټولنو او سازمانونو کې د برخه اخیستلو ازادي او د شخصي محرمیت ازادي پکې راغلي دي.

د ماشوم د حقوقو د تړون **۱۲ ماده** د ماشوم د خبرې اوریدلو مهم اصل ته ګوته نیسي.

1. **غړي هیوادونه هغه ماشوم ته چې دخپلو نظریاتو د بیانولو توان ولري دا حق ورکوي چې دا نظریات په ازاده توګه بیان کړي، او همدې نظریاتو ته د ماشوم د سن او پوخوالي په پیمانه لازمه پاملرنه کوي.**
2. **نو ځکه هم ماشوم ته باید اجازه ورکړل شي چې په قضائي او اداري اجراأتو کې ئې نظر واوریدل شي، یا په مستقیمه توګه او یا هم د ملي قوانینو د احکامو او طرزالعملونو سره سم د استازیتوب له لارې.**

**د ۱۲ مادې ۱ فقره** غړي هیوادونه مؤظف بولي چې د ماشومانو په هکله د پریکړو د نیونې په وخت کې هغوی ته د برخه اخیستنې اجازه ورکړي. دا کار پر دوې اغیزه کوي او د ماشومانو د حقوقو د خوندي ساتلو په لاره کې یو عملي ګام شمیرل کیږي. دا امر پدې معنی نه دئ چې ماشومان دې د خودارادیت حق ولري، هغوی د پریکړې په نیونه کې د برخه اخیستلو حق لري. غړي هیوادونه د ماشومانو د بیان د ازادي په خوندي ساتلو مکلف بلل، دولتونه د پریکړه نیونې په پروسو کې د ماشومانو د برخه اخیستنې لوري ته هڅوي.

د برخه اخیستنې دا شکل باید صادقانه او ریښتونئ وي نه نمایشي. برسیره پر دې هرڅومره چې ماشوم لوی او پوخ وي هغومره باید د هغه نظریاتو ته ارزښت ورکړل شي.

د مثال په توګه د تنکي ځوانانو نظرياتو ته بايد د جزائي اجراأتو په محکمو کې خاصه پاملرنه وشي.

**د ۱۲ مادې ۲ فقره** د پریکړی نیونې پراخه ساحه پوښلې ده چې د قضائي اجراأتو نه نیولې تر نورو ټولو هغو برخو پورې چې پر ماشوم اغیزه لري لکه ښوونه او روزنه،عامه روغتیا،پلانګذاري،چاپیریال او داسې نور.

په نړیوالو حقوقو کې د بیان ازادي یو نوئ حق ندئ. په عنعنوي ډول د بیان ازادي یو داسې حق دئ چې د ماشومتوب سره ئې اړه نه درلوده. مګر د CRC د تړون د لیکلو په وخت کې لیکونکو هیوادونو د ماشومانو لپاره ددې حق پر اهمیت باندې ټینګار وکړ او دائې ومنله چې ماشومان ددې حق نه د استفادې لپاره ښابې مرستو ته اړتیا ولري.

**د ۱۳ مادې ۱ فقره** د ماشوم د بیان ازادي داسې تعریفوي:

**د سرحدونو له په نظرکې نیولو نه پرته د هرډول معلوماتو او نظریاتو د پلټنې،ترلاسه کولو او انتقالولو ازادي، چیرې چې دا معلومات او نظریات شفاهي،کتبي یا چاپي وي اویا هم د هنر په بڼه او یاهم د ماشوم په انتخاب د کومې بلې ډله ایزې رسانې له لارې وي.**

د ماشوم له خوا د رسانو د انتخاب په هکله (چې په **۱۷ ماده** کې به ورباندې خبرې وشي) د تړون غړي هیوادونه د **۱۳ مادې د ۱ فقرې** پر اساس مکلف دي چې هغو ماشومانو ته چې د خپلو نظریاتو د بیانولو توان لري دا زمینه مساعده کړي چې په ماشوم پورې د ټولو مسئلو په هکله خپل نظریات په ازاده ډول بیان کړي، او همدې نظریاتو ته دې د ماشوم د سن او پوخوالي په اندازه لازم ارزښت ورکړي. په بل عبارت، غړي هیوادونه باید د ماشومانو لپاره ددې حق خوندیتوب په ډیره لوړه سویه مساعد کړي ترڅو هغوی وکولای شي د بیان د ازادئ له حق څخه د خپلې خوښې رسانې له لارې، چې حتمي نده شفاهي وي، ګټه واخلي.

**د ۱۳ مادې ۲ فقره** حکم کوي چې د ماشوم د بیان ازادي کیدای شي ځیني ټاکلي محدودیتونه ولري چې هغه دادي:

**أ. د نورو د حقوقو او حیثیت په خاطر،**

**ب. د ملي مصئونيت او عامه نظم د حراست له امله، يا د عامې روغتيا او عامه اخلاقو د ساتلو په خاطر.**

د **۱۳ مادې په ۲ فقره** کې دا ټاکل شويده چې که چيرې غړي هيوادونه وغواړي د همدې مادې په ۱ فقره کې محدوديتونه وضع کړي، نو دا محدوديتونه بايد د قانون له مخي وي او يوازې د ترون يوې موضوع ته متوجه وي، همدا راز د محدوديت وړاندې کونکۍ دولت بايد په خپل هيواد کې ددغه محدوديت ضرورت مستدل کړي.

د **۱۳ مادې** د بيان د ازادۍ د حق او د **۱۵ مادې** په سوله ايزو راغونډيدو او د ټولنو دجوړولو د ازادۍ د حق تر منځ يوه اړيکه موجوده ده، که څه هم پدې دواړو حقوقو باندې په ځانګړو موادو کې ټينګار شويدئ. د ټولنو د جوړولو او په سوله ايزو غونډو کې د ګډون کولو ازادي ماشوم ته په ډله ايزو فعاليتونو کې د برخه اخيستنې حق ورکوي. د ۱۵ مادې محتويات او د هغې محدوديتونه هغه احکام دي چې په نورو نړيوالو او د بشر د حقوقو په سيمه ايزو ترونونو کې هم ذکر شويدي، اما په CRC کې د هغوی د شاملولو اهميت پدې کې دئ چې غړي هيوادونه مجبوروي د ماشوم په مورد کې دا حقوق ملاحظه کړي.

د ترون په **۱۳ او ۱۵ مادو** کې د مدني او سياسي حقوقو په باب د ماشومانو د ادعاګانو شاملول د بشر د حقوقود نړيوال قانون ته دا فرصت ورکوي چې د ارزښتونو بدلون تشويق او په ټولنيز ژوند کې د ماشومانو برخه اخيستنې ته ارزښت ورکړي.
د ماشومانو او لويانو لپاره د تفکر ،عقيدې او مذهب د ازادۍ حق د انساني کرامت او ذاتي ارزښتونو نه سر چينه اخلي، کوم چې د بشر د حقوقو په نړيوال قانون کې تسجيل شويدي.

د ماشوم د حقوقو دترون د **۱٤ مادې ۱ فقره** حکم کوي چې:

**غړي هيوادونه بايد د ماشوم د تفکر ،عقيدې او مذهب د ازادۍ حق ته دره ناوۍ وکړي.**
د ماشوم د حقوقو په ترون کې ددې حق د شاملولو موخه د غړو هيوادونو پاملرنه دې امر ته راګرزول دي چې ماشومان هم کولۍ شي په مستقيمه توګه له دې حق نه ګټه واخلي.

**د ۱٤ مادې ۲ فقره** په مشخصه توګه د ماشوم د ودې کونکو ظرفیتونو په هکله ده چې د تړون په ۵ ماده کې هم ذکر شویدي. دولتونو ته د ماشوم د ودې کوونکو ظرفيتونو سره د متعادلې لارښوونې د وجيبې سپارل پدې معنی دي چې غړي هيوادونه بايد دا پرسميت وپيژني چې د ماشوم د لارښوونې په باب د والدينو صلاحيت بايد د ماشوم په لوېېدو سره مخ په کميدو شي. دا هغه ماده ده د کومې په باب چې ډېرو هيوادونو ريزرفيشنونه وړاندې کړيدي.
د "عقيدتي معترضينو " تر عنوان لاندې له عسکري خدمت څخه د ماشومانو ډه ډه کول يوه هغه ساحه ده چيرې چې هغوی په ۱٤ ماده کې د خپلو مندرجو حقوقو نه استفاده کوي. عقيدتي معترض د تعريف له مخې هغه چاته ويل کيږي څوک چې د عسکري خدمت واجد وي مګر د عقيدتي او يا له مذهبي،اخلاقي،معنوي،بشري،فلسفي،سياسي او نورو ورته دلايلو څخه د راپورته شوو اعتقادونو له مخې د نظامي خدمت څخه ډه ډه وکړي.

د ماشوم د حقوقو تړون د مکلفيت د دورې د سن اقل حد ۱۵ تاکلئ او له دولتونو څخه ئې غوښتي دي چې هڅه وکړي د ۱۵ څخه تر ۱۸ کلنو افرادوڅخه په لومړي سرکې مشران جلب کړي(۳۸ ماده). له همدي کبله د عقيدتي معترض په نامه د ماشومانو د پيژندنې حق د نړيوال قانون له مخې د هغو هيوادو له ۱۵ څخه تر ۱۸ کلنو ماشومانو ته متوجه دئ چيرې چې د نظامي خدمت ته د جلبولو سن تر ۱۸ کم وي.
د تفکر ،عقيدې او مذهب حق هم د ماشومانو او هم دلويانو لپاره د نړيوال قانون له مخې تر هيڅ ډول محدوديت لاندې نشي راتلئ او حتی په اضطراري حالاتو کې هم نشي محدوديدئ.

**د ۱٤ مادې** ۳ فقره غړو هيوادو ته اجازه ورکوي چې د ماشوم د عقيدې او مذهب پر ازادی باندې محدوديتونه ولګوي، مګر

**يوازې هغه محدوديتونه چې په قانون کې ياد شوي وي او د عامه نظم او امنيت،روغتيا،اخلاقياتو او د نورو افرادو د اساسي ازاديو او حقوقو د ساتلو په خاطر وي.**

دا فقره د محدوديتونو له هغو نورو فقرو سره چې د ماشوم د حقوقو او په نورو نړيواله تړونونو کې ذکر شوی دي شباهت لري. د هغوی توپير په دې کې دئ چې د ۱٤ مادې ۳ فقره دې محدوديتونو ته د عامه امن د ساتلو په خاطر (نه د ملي امنيت په دلايلو ) اجازه ورکوي.

**د ۱٦ مادې ۱ فقره** د ماشوم د شخصي محرميت حق په لاندې ډول بيان کړئ دئ:

**د هيڅ ماشوم محرميت،شخصي ژوند،کورنۍ او يا مراسلات تر خودسرانه او غير قانوني لاس وهنې لاندې نشي راتلې او نه د هغه عزت او ابرو تر غير قانوني حملې لاندې راتلئ شي.**

د ۱۶ **مادې ۱ فقره** دا بيانوي چې که چيرې پدې حق کې لاسوهنه وشي، نو ماشوم دا حق لاري چې د قانون له خوا ددې ډول لاسوهنو او حملاتو نه خوندي وساتل شي.

رسانې

**په ۱۷ ماده**کې د ماشوم د ښوونې او روزنې او د هغه د نظرياتو د انعکاس په هکله د ډله ايزو رسانو رول تسجيل شوئدئ. په ۱۷ ماده کې راغلي دي چې:

**غړي هيوادونه د ډله ايزو رسانو د خورا مهمې دندې په پوهيدو سره بايد دا تأمين کړي ماشوم له بيلابيلو ملي او بين المللي منابعو څخه معلوماتو ته لاسرسنه ولري، بالخصوص هغه مواد او معلوملت چې د ماشوم د اجتماعي،معنوي او اخلاقي سوکالۍ د سوېې د لوړولو او دبدني او عقلي روغتيا د ښه والي په باره کې وي**

د ماشوم د حقوقو په تړون کې ډله ايزې رسانې د يوې مؤثرې تربيتي وسيلې په توګه منل شوي او غړي هيوادونه تشويق شويدي چې هغه معلومات چې د هيواد له تربيتي اهدافو سره مرسته کوي تبليغ او ترويج کړي. وړاندې ۱۷ ماده داسې وايې:

**د) ډله ايزې رسانې بايد د اقليتي ډلو او بومي طائفو د ماشومانو ژبنيزو ضرورتونو ته خاصه پاملرنه وکړي، او**

**ه) د ۱۳ او ۱۸ مادو د احکامو له مخې د هغو معلوماتو په وړاندې د خونديتوب رهنمودونه جوړ کړي کوم چې د ماشومانو سوکالۍ ته ضرر ولري.**

**د والدینو مسئولیتونه**

د **۱۸ مادي ۱ فقرې** په غړو هیوادونو باندې دا وجیبه ایښې ده چې ټولې هڅې پکار واچوي تر څو

**د ماشوم د ودې او روزنې په خاطر د مور او پلار له خوا د ګډو مسئوایتونو د درلودلو اصل وپیژندل شي. والدین او یا قانونې سرپرست د ماشوم د ودې او روزنې په برخه کې لومړنې مسئولیت لري. د ماشوم غوره ګټې باید د هغوی اساسي موخه وي.**

**د خاصو ضرورتونو لرونکي ماشو مان**

په نړیوالو حقوقو کې د خاصو ضرورتونو لرونکي ماشومان هغو کوچنیانو ته وایې چې د خپل ماشومتوب په خاطر او یا هم د نورو حالاتو له کبله لکه پناه وړونکیتوب،معلولیت او یا هم په مؤقته یا دایمي توکه له کورنۍ څخه د جلاتوب په خاطر تر نورو اسیب پذیره وي.
د ماشومانو دا ډله تر نورو کوچنیانو ځکه جلا شویده چې هغوی خاص ضروریات لري ، کوم چی باید رفع شي تر څو هغوی وکولې شي په CRC کې له خپلو ټولو ثبت شوو حقوقو څخه برخه واخلي. په دې ډله کې پناهوړونکي ماشومان او هغه بیکوره ماشومان چې پناه غوښتونکي وي شامل دي.
د ماشوم دحقوقو د تړون د **۲۲ مادې ۱ فقره** د پناه وړونکو ماشومانو په باره کې ده او حکم کوي:

**غړي هیوادونه باید په لازمو اقداماتو لاس پورې کړي تر څو هغه ماشومان چې د پناه وړونکې د موقف غوښتنه کوي او هغه ماشوم چې د ملي او بین المللي قوانینو له مخې د پناه وړونکي په حیث پیژندل شوئ وي، صرف نظر له دې نه چې والدین اویا کوم بل څوک ورسره وي او که نه، وکولې شي د ماشوم د حقوقو په تړون او په نورو د بشر د حقوقو نړیوالو تړونونو او اسنادو کې د ثبت شوو حقوقو څخه د پوره استفادې په لاره کې بشري مرسته او لازم خوندیتوب تر لاسه کړي**

د ماشوم د حقوقو تړون په دې برخه کې با اهمیته پراختیا پیدا کړیده او د پناه وړونکو او پناه غوښتونکو ماشومانو د حقوقو تساوي يې تضمین کړیده.

د ملګرو ملتونو د پناه وړونکو عالي کميشنر په ۱۹۹٤[۲۱] کال کې د پناه وړونکوماشومانو لارښودليک تدوين کړ. په دې سند کې راغلي چې ماشومان ښائي خپل ډار او هراس له لويانو نه په مختلفه توګه بيان کړي نو ځکه هم مشوره کيږي چې دامکان په صورت کې د ماشوم د مؤقف ازمويونکۍ بايد له ماشوم سره يو شان کلتوري سابقه او ګډه ژبه ولري.

دي لارښودليک د مؤقف ، بالخصوص د ماشومانو د مؤقف د تثبيتولو په وخت کې د رامنځته کيدونکو ستونزو اتکل کړيدې او غواړي چې د ماشومانو د پناهند ګی د مؤقف په ټاکلو کې د ترديد د مزيت له اصل څخه ازاده استفاده وشي. د ماشوم د پناهنده ګی د مؤقف په ټاکلو کې دا لارښودليک د CRC د ۱۲ او ۱۳ مادو په مرسته غښتلې شويدئ کومې چې ماشوم ته د بيان د ازادی حق ورکړئ او پناه غوښتونکي ماشومان ئې هم تر ستر لاندې نيول شويدي.

هغه ماشوم پناه وړونکې چې يوازې وي(همراه ونلري) تر نورو زيات حقوقي حمايت ته ضرورت لري. يوازې پناه وړونکې ماشوم هغه ماشوم دې چې له دواړو والدينو څخه بيل شوې وي او د کوم چا تر قانونې او يا عرفي سرپرستی لاندي نوي. په CRC کې له غړو هيوادو نه غوښتنه شوي چې د يوازې پناه وړونکو ماشومانو حقوقو ته خاصه پاملرنه وکړي.

**د ۲۲ مادې په ۲ فقره** کې راغلي دي چې غړي هيوادونه بايد د لزومديد په صورت کې له بين الحکومتي او غيرحکومتي سازمانونو سره همکاري وکړي تر څو:

**له دې ډول ماشوم نه حمايت او له هغه سره مرسته وکړي او له کورنی سره د هغه د بيا يوځايکيدو په منظور د هغه د والدينو او يا د کورنی د نورو غړو پلټنه وکړي. که چيرې والدين او يا د کورنی نور غړي پيدا نشي نو له دې پناه وړونکې ماشوم څخه دې د نورو ماشومانو په شان چې په بيلابيلو دلايلو له خپلو کورنيو څخه په مؤقتي او يا دايمي ډول جلا شوي وي د CRC د احکامو سره سم چلند او ژغورنه وشي.**

[۲۱] پوره متن دلته وګوری: http://www.unhcr.org/protect/PROTECTION/3b84c6c67.pdf

د ماشوم د تړون غړي هيوادونه بايد له کورنۍ سره د ماشوم د يوځايکيدو په منظور د لازمو اطلاعاتو په راټولولو کې مرسته او همکاري وکړي. د کورنۍ سره د يوځاي کيدو اقدامات د **۱۰ مادې** په ۱ فقره کې ثبت شويدي چې وايې:

له کورنۍ سره د يوځاي کيدو په منظور له يوه هيواده څخه د وتلو او يا يوه هيواد ته د ورننوتلو په هکله د يوه ماشوم او يا د هغه د والدينو درخواست بايد د غړو هيوادو له خوا په مثبت،بشردوستانه او ګړندۍ توګه وڅيړل شي. غړي هيوادونه بايد دا تأمين کړي چې ددې ډول درخواست وړاندي کول بايد درخواست کوونکي او دهغه د کورنۍ غړوته هيڅ ډول منفي عواقب ونلري.

**د ۲۲ مادې ۱** فقره د غړو هيوادونو پاملرنه دې امر ته راګرزوي چې بايد د همراه لرونکو او بيهمراه (يوازې) ماشومانو سره د هغوی د حقوقو د ژغورنې په اړوند مساويانه چلند وشي.

د معيوبو ماشومانو په هکله اساسي اصل د **۲۳ مادې** په ۱ فقره کې تسجيل شويدې چې د هغې له مخې غړو هيوادونو دا منلې ده چې:

**په جسماني او يا روحي لحاظ معيوب ماشوم بايد په پوره او ابرومندانه توګه په داسې شرايطو کې ژوند وکړي چيرې چې د هغه کرامت خوندي شوئ، په ځان اتکأ يې ټينګه شوې او په ټولنيزو فعاليتونو کې د هغه برخه اخيستنه اسانه شوې وي.**

دا ماده د دوهمې مادې د غير تبعيضي احکامو په کومک غښتلې شوېده چيرې چې غړي دولتونه مکلف دي په خپل هيواد کې د تړون ټول حقوق بيله تبعيضه او دماشوم د معلوليت له په نظرکې نيولو نه پرته تأمين کړي. په دې حقوقو کې د ښوونې او روزنې حق او د بيارغا له خدماتو نه د ګټې اخيستنې حق هم شامل دئ.

د **۲۳ مادې** په **۲ فقره** کې راغلي چې غړي هيوادونه

**د معيوب ماشوم د خاص مواظبت حق پرسميت پيژني او له مستحقو ماشومانو او د هغوی د سرپرستانو سره د موجودو امکاناتو په چوکات کې د هر ډول مرستې د برابرولو تشويق او تأمين کوي، هغه مرستې چې غوښتل شوې وي او د ماشوم د حالت او د هغه د والدينو او سرپرستانو د اوضاع سره مناسبې وي.**

**د ۲۳ مادې** په **۳ فقره** کې راغلې دي چې له مرستو څخه موخه باید دا وي چې معیوب ماشومان وکولئ شي ښوونې او روزنې،روغتیايي خدماتو،دبیارغا خدماتو، دکارموندلو خدماتواو تفریحې امکاناتو ته" مؤثره دسترسي" ولري تر څو وکولې شي د خپلې ټولنیزې ودې او په اجتماعي چارو کې د پوره ګډون لپاره له هغو څخه کامله استفاده وکړي. دا ډول کمکونه باید د ماشوم د سرپرستانو د مالي منابعو په نظر کې نیولو سره د امکاناتو په صورت کې په وړیا توګه برابر شي.

## د بقا او ودې(تکامل) حق

د CRC په **۲٤ ماده** کې د ماشوم د روغتیا حق د بشري حقوقو په نړیوال قانون کې په تر ټولو زیاته مؤجزه او مشخصه توګه تسجیل شویدی. د ماشوم د حقوقو په تړون کې د روغتیا په هکله دریځ د WHO تر دریځه لا پراخ دې او پر ابتدائي حفظ الصحې باندې ټینګار کوي.

د ماشوم د هغو فعالیتونو مخنیوئ چې د هغه روغتیا ته ضرر رسوي په لومړي ګام کې د کورنیو مسئولیت دې. مګر د مناسبو روغتیايې خدماتو برابرول د دولت وظیفه ده . په ۲٤ ماده کې د ماشومانو لپاره د پراخو او بیلابیلو روغتیايي خدماتو د جوړولو،د ماشومانو له خوا هغو ته د دسترسي او د هغو د حمایت په هکله پاملرنه شویده.

**د ۲٤ مادې ۱ فقره** غړي هیوادونه مکلف بولي چې د ماشوم له خوا تر ممکنې لوړې سوېې پورې د روغتیايې خدماتو نه د ګټې اخیستنې حق پرسمیت وپیژني. دا ماده له غړو هیوادونه غواړي دا امر تأمین کړي چې هیڅ ماشوم دی د خپلې ناروغۍ د معالجې او یا د خپل صحت د بیارغا په خاطر له روغتیايې خدماتو نه مخروم نشي.

**د ۲٤ مادې ۲ فقره** هیوادونه مکلف بولي چې د نوزادانو او ماشومانو د مرګ د شمیر د کمولو لپاره له ټولو لازمو تدابیرو نه کار واخلي. د ماشوم د حقوقو تړون د ژوند حق د ماشوم د بقا او ودې لپاره د مثبتو اقداماتو سره تړلې بولي. د روغتیا د نړیوالې مؤسسې (WHO) او یونیسیف هغو څیړنو چې د اقتصادي بدلونونو په دوران کې د نجونو او هلکانو د مرګ او مړینې د میزان په باره کې تر سره شویدي دا په ډاګه کړیده چې د نجونو د مرګ میزان په

غیرمتناسبه توګه د هلکانو تر مرګ زیات دئ. ددې واقعیت یو علت هم دادئ چې په ځینو ټولنو کې هلکانو ته تر نجونو زیات ارزښت ورکول کیږي.

**د ۲٤ مادې د ۳ فقرې** له مخې غړي دولتونه وظیفه لري چې د کوچنیانو د روغتیا په هکله خرافاتي رسم او رواجونه منع کړي. دوهمه ماده غړي هیوادونه مکلف بولي چې دکورنۍ د غړو د عقائدو پر اساس تبعیض منع کړي او دا حکم ددې معنی لري چې هیوادونه صلاحیت لري ددې ډول تبعیضونو د له منځه وړلو په لاره کې هڅه وکړي.

**د ۲٤ مادې د ۲ فقرې د (ج)** بند د ماشومانو لپاره د مغذي ډوډۍ او د ښښاک د پاکو اوبو د برابرولو په باره کې ده او پر دولتونو وظیفه ږدي چې له ټولو لازمو تدابیرو نه استفاده وکړي تر څو:
**د ابتدائي حفظ الصحې په چوکاټ کې د موجودو تکنالوژیکې وسایلو څخه په استفادې سره، د مغذي خواړو او د څښاک د پاکو اوبو په برابرولو او د چاپیریال د ککړوالي د ګواښونو په نظر کې نیولو سره د ټولو ناروغیو او سؤتغذي پر ضد مبارزه وکړي.**

په **۲٤ ماده** کې د هیوادونو پاملرنه د تغذیې دري اړخونو ته جلب شویده:

۱. په کافي اندازه مغذي خواړه؛
۲. د څښاک پاکې اوبه؛
۳. ماشوم ته د مور شیدې

**د ۲٤ مادې د ۲ فقرې د (د) بند** تر ولادت دمخه او وروسته د میندو د روغتیا په هکله ده او هیوادونه مؤظف بولي چې
**د میندو لپاره تر ولادت مخکې او وروسته لازم روغتیایي خدمات تأمین شي.**

په دې اصل کې لاندې جزئیات شامل دي: د نوزاد د کم وزنۍ او تر موعده مخکې د ماشوم د زیږیدنې د ګواښونو د عواملو له منځه وړل، د ولادت لپاره د پاک مکان برابرول، د تودوخې د درجې کنترول او تنفسي مرسته کوونکې وسایل، ماشوم ته تر ولادت وروسته سملاسي د مور شیدې ورکول. CRC د دې ډول مواظبت پر اهمیت ټینګار کوي او له غړو هیوادو نه غواړي چې ددې " حق بشپړ تأمینول" تر سره شي ( **د ۲٤ مادې ۲ فقره**). له دې تأکید سره سره دا په هیوادونو پوري اړه لري چې ددې ستونزې پراخوالئ او د مؤثرو اقداماتو عملي کول په پام کې ولري.

د **۲۷ مادې ۱ فقره** غړي هیوادونه مکلف بولي چې
**د هر ماشوم لپاره د ژوند د معیاراتو حق وپیژني، هغه معیارات چې د ماشوم د جسمي،عقلي،معنوي،اخلاقي او اجتماعي ودې او تکامل لپاره مناسب وي.**

د ژوند د معیاراتو اصل ډیر پراخ دئ او ډوډۍ، کور، کالي او روغتیا پکې شامل دي. د ماشوم د حقوقو تړون د ژوند معیارات د ماشوم د اخلاقي او ټولنیزې ودې له اړخونو سره اړوند بولي.

د **۲۷ مادې ۲ فقرې** تائید کړیده چې والدین هغه لومړني کسان دي چې د خپل توان او مالي امکاناتو په اندازه د ماشوم د ودې لپاره د ژوند لازم امکانات برابروي. د **۲۷ مادي د ۳ فقرې** له مخې د دولت وظیفه ثانوي ده تر څو د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې له والدینو سره د ماشومانو د مساعدو معیاراتو د برابرولو مرسته وکړي. خو سره له دې هم د CRC د ٤ مادې له مخې دولتونه مکلف دي د خپلو موجودو امکاناتو تر اعظمی حده پورې د ماشومانو لپاره د ژوند مساعده معیارات تضمین کړي.

د ماشوم د ژوند د معیاراتو د حق د خوندي ساتلو په صورت کې کیدای شي چې هم لویان او هم ماشومان د ټولنیزو تأمیناتو له مرستو څخه ګټه واخلي. په **۲٦ ماده** کې تړون د ټولنیزو تأميناتو په هکله یوازې پر دولتونو دا وظیفه ایښې ده چې د " ملي قوانینو په رڼا کې" ددي حق پوره تعمیل ته ځان ورسوي. نو ځکه هم د ټولنیزو تأمیناتو د لاس ته راوړلو معیارونه د نړیوالو حد اقل معیارونو له مخې نه، بلکه د ملي قوانینو له خوا تنظیمیږي.
CRC د ماشوم د بقا او ودې تر منځ اړیکي د روغتیا د یوې عمومي پالیسی په چوکاټ کې را غونډې کړیدي چې دا کار په نړیوالو حقوقو کې یو مهم پرمختګ دئ. اما له یوې خوا د اقتصادي،اجتماعي او کلتوري حقوقو او له بلې خوا د مدني او سیاسي حقوقو تر منځ تصنعی بیلوالئ د اولویتونو د نشتوالي سبب شوې چې په غیر عمدي توګه ئې غړو هیوادوته د هغوی د سیاستونو یو بنسټ جوړ کړئ دئ.

**ښوونه او روزنه**

ښوونه او روزنه په انفرادي او ملي پرمختګ کې ډیر اهمیت لري. د ماشومانو لپاره ډیره ضروري ده ځکه له هغوی سره د خپلو بالقوه امکاناتو په کار اچولو کې مرسته کوي. د ۲۸ **مادې د ۱ فقرې (الف) بند** دولتونه مکلف بولي چې د خپلو امکاناتو څخه په اعظمې استفادې سره په پرمختلونکې توګه وړیا ابتدایې تعلیمات مساعد کړي. په نړیوالو حقوقو کې دا پټیل شویده چې په ټولو هغو هیوادونو کې چې ICESCR او یا CRC ئې لاسلیک کړیدئ ماشومان وړیا ابتدایي تعلیمات ترلاسه کوي.

د ۲۸ مادې د ۱ **فقرې (ب) بند** حکم کوي چې غړي هیوادونه باید
**د عمومي او مسلکي تعلیماتو په شمول د ثانوي تعلیماتو د مختلفو بڼو پر مختګ تشویق کړي، دا تعلیمات د هر ماشوم لپاره مهیا او د دسترسۍ وړ وګرزوي او په نورو لازمو اقداماتو لاس پورې کړي لکه د وړیا زده کړو برابرول او د ضرورت په وخت کې مالي مرستې ورکول.**
"د ضرورت په وخت کې مالي مرستې ورکول" باید دولتونه له خپلې اساسي دندې نه چې د ټولو ماشومانو لپاره د وړیا ثانوي تعلیماتو برابرول او مهیا کول دي، منحرف نه کړي.

د ۲۸ مادې د ۱ **فقرې (ج) بند** غړي هیوادونه مؤظف کړیدي چې په پرمختلونکې توګه
**د موجودو امکاناتو له مخې د ټولو لپاره د ظرفیت پر اساس د لوړو تحصیلاتو شرائط برابر کړي.**

په ښوونځیو کې د انضباط او دسیپلین د رامنځته کولو اصل د ۲۸ **مادې** په ۲ **فقره** کې راغلئ چې داسې حکم کوي:

**غړي هیوادونه باید لازم تدابیر ونیسي تر څو په ښوونځیو کې د انضباط او دسیپلین پلي کول د ماشوم د بشري کرامت او د ماشوم د حقوقو د نړیوال تړون له موادو سره تطابق ولري.**

**د ۲۸ مادې ۲ فقره** د ماشومانو د حمایت نور احکام لري. ددې مادې سره سم له تعذیب، شکنجې او مستبدانه ،غیرانساني او تحقیرامیزه چلندونو نه په ښوونه او روزنه کې د

انظباطي تدبير په توګه استفاده منع ده. انظباطي تدابير بايد د ماشوم د بشري کرامت او د ماشوم د حقوقو د نړيوال تړون سره تطابق ولري.

د ۲۸ مادې د ۲ فقرې احکام د **۱۹ مادې د ۱ فقرې** په احکامو سره غښتلي شويدي چې په هغو کې

**غړي هيوادونه مکلف دي ټول لازم قانوني،اداري،اجتماعي او تربيتي تدابير ونيسي تر څو د جسماني او روحي تشدد ،جراحت او سؤاستفادې،بيتوجهی،ناوړه ګټې اخيستلو او استثمار،جنسي سؤاستفادې د ټولو بڼو نه ماشومان خوندي وساتي، کله چې هغوی د والدينو،قانوني سرپرست او يا د کوم بل مؤظف شخص تر مواظبت لاندې وي.**

" د کوم بل مؤظف شخص" په اصطلاح کې ښوونکي هم شامل دي.

په **۲۹ ماده** کې د ښوونې او روزنې اهداف توضيح شويدي او ددې مادې يو بل ارزښت په دې کې دئ چې د ښوونې او روزنې اهداف د ماشوم د نظر له ټکې نه راسپړل شويدي. د **۲۹ مادې د ۱ فقرې د (الف) بند** له مخې غړي هيوادونه موافقه کوي چې د ماشوم د ښوونې او روزنې موخه بايد
**د هغه د شخصيت،استعداد،عقلي او بدني امکاناتو تر اعظمي حده پرمختيا وي.**

**د ۲۹ مادې د ۱ فقرې (ج) بند** ټينګار کوي چې ښوونه او روزنه بايد
**د ماشوم والدينو، دهغه کلتوري هويت،ژبې او د ماشوم د اوسيدو هيواد او همدا راز د ماشوم د اصلي هيواد او نورو مدنيتونو ارزښتونو ته دره ناوي ته وده ورکړي.**

**د ۲۹ مادې د ۱ فقرې (د) بند** حکم کوي چې د ماشومانو ښوونه او روزنه بايد هغوی په يوه ازاده ټولنه کې يوه بامسئوليته ژوند ته اماده کړي.

د هغو ماشومانو لپاره چې په ملي،مذهبي او ژبنيزو اقليتونو پوری اړه لري او يا بومي وي، ښوونې او روزنې ته د مساوي دسترسی حق په **۳۰ ماده** کې داسې تسجيل شويدئ:

**ماشومان بايد د خپلې ډلې له نورو غړو سره د خپل کلتورنه د ګټې اخيستنې،دخپلو مذهبي مراسمو داجرأ او دخپلې ژبې نه د استفادې له حقوقو نه محروم نشي.**

**وســـله وال کـــړکـــیچونه**

ماشومان د ملکي افرادو په توګه او یا هم د ګډون کوونکو په توګه په وسله والو کړکیچونو کې راښکیل کیږي. هغوی په غیرمستقیمه توګه د خواړو او مهماتو په انتقالولو سره او یا هم په مستقیمه توګه د وسله والو ځواکونو د غړو په څیر په وسله والو کړکیچونو کې برخه اخلي.
نړیوال بشردوستانه قانون د نړیوالو حقوقو هغه برخه ده چې د وسله والو کړکیچونو څارنه کوي. دا قانون په دوو برخو ویشل شویدئ: بین المللي وسله وال کړکیچونه او غیربین المللي وسله وال کړکیچونه.
د ماشوم د حقوقو د تړون د **۳۸ مادې ۱ او ۲ فقرې** په وسله والو کړکیچونو کې د ماشومانو په هکله هم د بشري حقوقو د نړیوال قانون او هم د نړیوال بشردوستانه قانون اصول تائید کړیدي. د **۳۸ مادې ۱ فقره** غړي هیوادونه مکلف بولي چې په هغوی پورې اړونده په وسله والو کړکیچونو کې د ماشومانو په هکله د نړیوال بشردوستانه قانون د احکامو دره ناوئ وکړي. د **۳۸ مادې ٤ فقره** له غړو هیوادونه غواړي چې په نړبوال بشردوستانه قانون کې د خپلو وجائبو سره سم

**په وسله والو کړکیچونو کې د ملکي افرادو ساتنه وکړي، غړي هیوادونه باید د هغو ماشومانو د ژغورنې او مواظبت لپاره چې په یوه وسله وال کړکیچ کې زیانمن شوي وي له ټولو ممکنو تدابیرو نه کار داخلي.**

**د ۳۸ مادې په ۲ او ۳ فقرو** کې په وسله والو ځواکونو کې د جلبولو او ګډون کولو سن ۱۵ ټاکل شویدئ. د **۳۸ مادې ۳ فقره** حکم کوي چې
**غړي هیوادونه باید په خپلو وسله والو ځواکونو کې د هغو افرادو د جلبولو نه ډه ډه وکړي کوم چې ۱۵ کلن شوي نه وي. د هغو افرادو تر منځ چې له پنځلسو څخه زیات اما اتلس کانی ته نه وي رسیدلي، غړي هیوادونه باید په لومړي ګام کې مشران جلب کړي.**

**۳۸ ماده** په وسله والو ګړکیچونو کې د زیانمن شوو ماشومانو د بیارغا په هکله کومه څرګنده اشاره نده کړې، مګر په **۳۹ ماده** کې دي ډلې ته دمرستو د برابرولو اټکل شویدئ.

**د ۳۹ مادې** په حکم غړي هیوادونه باید لازم تدابیر ونیسي تر څو

**د هغو ماشومانو بدني او روحي بيارغا او ټولنيز ژوند ته د بياورګډېدو امکانات تأمين شي، کوم چې د هرډول بيتوجهی،استثمار،سؤاستفادې،شکنجې او يا بل ظالمانه چلند،غيربشري او تحقيراميزه مجازاتو او يا دوسله والو کړکيچونو قربانيان وي. دا ډول بيارغا او ټولنيز ژوند ته بياورګډېدل بايد په داسې يوه چاپيريال کې ترسره شي چيرې چې د ماشوم روغتيا، ځان دره ناوئ او کرامت خوندي وي.**

## استثمار

د ماشومانو استثمار يوه عمومي پديده ده چې مختلفې بڼې لري. د ماشوم په هکله هر استثماري چلند معمولاً له يوه نه د زياتو حقوقو تر پښو لاندي کول دي. په استثمار سره اساسي حقوق نقض کيږي چې تر ټولو معمولې يې د کورني ژوندحق،دښوونې او روزنې حق او دروغتيا او تفريح حقوق دي. دا ټول هغه حقوق دي چې دماشوم د بقا او سالمې ودې لپاره ضروري دي. د ماشومانو استثمار د هيوادونو د موجودو اقتصادي،اجتماعي او کلتوري جوړښتونو انعکاس کوونکئ دئ.

په يوه هيواد کې د ماشومانو د کار ميزان د عرضې او تقاضا په بيلابيلو فکتورونو پورې اړه لري چې خواري او غربت له هغو څخه يو دئ. د کار د نړيوالې ادارې [۲۲] (ILO) د رپوټ له مخې د حداقل سن نه د ښکته ماشومانو د کارکولو علت د هغوی د کورنيو غربت او دهغوی په هيوادوکې د اقتصادي ودې د سوبې ټيټوالې دئ.
د اقتصادي استثمار په هکله د نړيوال قانون موخه داده چې په خاصو حالاتو کې د ماشومانو د کارکولو مخنيوئ وکړي او په هغو حالاتو کې چې دوی د کار حق لري د هغوی حمايت او ژغورنه وکړي.
په بين المللي حقوقو کې د ماشوم د کار تعريف ندئ شوئ، ځکه چې ډيرې بڼې لري. مګر کيدای شي هغه په لاندې برخو وويشل شي:

- محلي
- غير محلي
- غير پولي کار

[۲۲] د کار نړيواله اداره ILO د ملګرو ملتونو يوه خاصه اداره ده چې د کار له مسائلو سره سراوکار لري

- د پور په مقابل کې کار
- لاس مزد لرونکۍ کار
- اضافي اقتصادي فعالیت

نړیوال حقوق دا نه واېي چې د ماشوم دکار ټولې بڼې استثمار دئ. تر یوه خاص سن لاندې د ماشوم کار کول په عمومي توګه او په هغو حالاتو کې چیرې چې د ماشوم روغتیا او اخلاقو ته ګواښ وي د کار کول منع دي.

د ماشوم د تړون د **۳۲ مادې** په **۱ فقره** کې

**له اقتصادي استثمار او د هغو کارونو له کولو څخه چې مضر وي او ښوونه او روزنه اخلال کړي، او یا د ماشوم روغتیا او بدني،عقلي،روحي،اخلاقي او ټولنیزې ودې ته زیان ورسوي، د ماشوم د خوندیتوب حق تضمین شوئ دئ.**
د کاراو استخدام د حد اقل سن لپاره د ملګرو ملتونو د کار د نړیوالې ادارې ۱۳۸ تړون[۲۳] یو اساسي اصل دئ د کوم په لومړۍ ماده کې چې په اغیزمنه توګه د ماشوم د کار منع کول غوښتل شویدي او غړي هیوادونه مکلف شویدي چې د کار د استخدام حداقل سن وټاکې چې له ۱۵ څخه کم نه وي.

د ماشوم د حقوقو په تړون کې د کار د حد اقل سن ته اشاره نده شوې . د **۳۲ مادې د ۲ فقرې** له مخې غړي هیوادونه مکلف دي
**ددې مادې د تحقق په خاطر په تقنیني،اداري،اجتماعي او تربیتی اقداماتو لاس پوری کړي.**

د ماشومانو لپاره دکار حداقل سن په هکله د **۳۲ مادې ۲ فقرې د (الف)** بند له مخې غړي هیوادونه باید د نړیوالو حقوقو مربوطو احکامو ته مراجعه وکړي او
**کار ته د شاملیدو لپاره حداقل سن او یا سنونه وټاکي.**

**د ۳۲ مادې د ۲ فقرې (ب) بند** له اقتصادي استثمار څخه د ماشومانو ژغورنې ته اشاره کوي او پر دولتونو وظیفه ږدي چې

---

[۲۳] پوره متن دلته وګورئ : http://www.ilo.org/ilolex/english/convdisp۲.htm

**د کار دشرائطو او ساعتونو لپاره لازم مقررات تدوین کړي.**

غلامي د اقتصادي استثمار تر ټولو افراطي بڼه ده او د لویانو او ماشومانو په هکله د بشر د حقوقو په ټولو نړیوالو او منطقوي تړونونو ، د غلامۍ د منع کولو په خاصو معاهدو او په معمولو نړیوالو حقوقو کې منع شویده.د غلامۍ منع کول هیوادونه په دې هم مکلف بولي چې غلامۍ ته ورته ټول فعالیتونه او چلندونه له منځه یوسي لکه د پور په مقابل کې برمته نیول او یا هم د ماشومانو تجارت.

د تعریف له مخې د ماشومانو جنسي استثمار، له ماشومانو څخه د نورو د جنسي غرایضو د ارضا په خاطر استفادی کولو ته وائې چې د ماشوم د عاطفي او جسماني ضرورتونو په قیمت وي. دا د ماشوم د استثمار هغه بڼه ده چې د هغه د ماهیت له مخې او همداراز د نورو اړوندو شخصی ترخو تجربو، کورنیو او ټولنیزو منهیاتو، بدنامۍ او توبیخ په خاطر ئې پلټنه ډیره حساسه ده.

CRC هغه لومړنۍ نړیوال تړون دئ چې پر هیوادو باندې ئې له جنسي استثمار او سؤاستفادې څخه د ماشومانو د ژغورنې دنده ایښې ده. **۳٤ ماده** ماده د جنسي استثمار او جنسي ناوړه استفادې د هر ډول اشکالو نه د ماشومانو د ژغورنې په هکله له غړو هیوادونه غواړي چې:

**په ټولو لازمو ملي،دوه اړخیزه او څواړخیزه اقداماتو لاس پوری کړي تر څو دلاندې حالاتو مخنیوئ وکړي:**

1. **غیر قانوني جنسي فعالیت ته د ماشومانو هڅول او مجبورول؛**
2. **په فحشا او نورو غیر قانوني جنسي فعالیتونو کې له ماشومانو څخه استثماري ګټه اخیستنه؛**
3. **په پورنوګرافي موادو او نندارو کې له ماشومانو څخه استثماري ګټه اخیستنه.**

د ماشوم د حقوقو د تړون **۳٦ ماده** غړي هیوادوړنه مکلف بولي چې:
**د استثمار د ټولو ډولونو په وړاندې چې د ماشوم رفاه ته زیان رسوي له ماشومانو نه حمایت او ساتنه وکړي.**
دا ماده ډیره پراخه لیکل شویده تر څو وکولې شي د ماشوم د استثمار موجود او راتلونکي اشکال د CRC تر چوکاټ لاندې راولي.

د ماشومانو خرڅلاو او تجارت په دریو جلا ساحو کې چې یو له بله سره اړونده دي لیدل کیږي

- له بل هیواد نه د ماشوم په فرزندي نیول؛
- شاقه او اجباري کار؛
- جنسي استثمار.

**۳۵ مادې** د استثمار دا بڼې احتوأ کړیدي او غړي هیوادونه مؤظف کوي چې په ټولو لازمو ملي،دوه اړخیزه او څو اړخیزه اقداماتو لاس پورې کړي تر څو د ماشومانو د اختطاف،خرڅلاو ،تجارت په هر مقصد او هره بڼه چې وي مخنیوې وکړي.
د ماشوم د حقوقو نړیوال قانون د مخدره او سایکوتروپیک موادو غیر قانوني استعمال ته خاصه پاملرنه کړیده تر څو هغه حالات احتوأ کړي چیرې چې ماشومان دا مواد استعمالوي او چیرې چې ماشومان د مخدراتو په تجارت کې استثمار کیږي او له هغوی څخه ددې موادو په قاچاق کې د ناقلینو په توګه استفاده کیږي. **۳۳ ماده** پر دولتونو وظیفه ایښې ده چې **د تقنیني،اداري،اجتماعي او تربیتي تدابیرو په شمول له ټولو امکاناتو څخه استفاده وکړي تر څو ماشومان د مخدره او سایکوتروپیک(د نړیوالو اسنادو د تعریف سره سم) موادو د غیرقانوني استعمال نه خوندي وساتي او له ماشومانو څخه د همدي موادو په غیر قانوني تولید او قاچاق کې د استفادې مخنیوئ وکړي.**

**۳۹ ماده** هم پدې هکله د تطبیق وړ ده ځکه په هغې کې هغو ماشومانو ته اشاره شوېده چې د ناوړه استفادې او استثمار قربانیان وي. **۳۹ ماده** له هیوادو نه غواړي چې د هغو ماشومانو د بیارغا او په ټولنیز ژوند کې د بیاورګډېدوپه هکله لازم اقدامات ونیسي کوم چې د مخدرو موادو د غیر قانوني استعمالولو قربانیان دي.

### د تنکي ځوانانو په هکله عدالت

د بشري حقوقو په نړیوال قانون کې د تنکیو ځوانانو د عدالت د سیستم موخه د ماشومانو بیارغا او په ټولنیز ژوند کې بیاورګډېدل دي تر څوماشومان وکولئ شي خپل وقار او کرامت درک کړي او دنورو اساسي حقوقو ته دره ناوئ وکړي.

د تړون **د ٤٠ مادې د ۱ فقرې** له مخې غړي هیوادونه دا مني چې

**هر ماشوم چې د جزا د قانون له مخې تورن،متهم او یا مرتکب بلل شوئ وي دا حق لري چې له هغه سره د ماشوم د وقار او بشري کرامت د لوړولو د اصل پر مبنا چلند وشي. په دې کار سره د نورو کسانو بشري حقوقو او اساسي ازادیو ته د ماشوم د دره ناوي احساس غښتلې کیږي او د ماشوم سن او په ټولنیز ژوند کې د هغه د بیاورګډیدنې او مثبت رول لوبولو کې هیله په نظر کې نیول کیږي.**

غړي هیوادونه مکلف دي چې په ملي سویه د مشخصو قوانینو او مقرراتو په تدوین سره د خاصو محکمو په شمول د تنکې ځوانانو (مراحقو) عدلي سیستم جوړ کړي تر څو وکولې شي د تنکې ځوانانو د عدالت په برخه کې خپل وجائب تر سره کړي.
د ماشوم د حقوقو د تړون د **٤٠ مادې د ۳ فقرې** له مخې

**غړي هیوادونه د هغو ماشومانو لپاره چې د جزا له قانون څخه په سرغړونه تورن،متهم او یا مرتکب وي د خاصو قوانینو،طرزالعملونو او سازمانونو په جوړولو کې هڅه کوي.**

**د ٤٠ مادې د ۳ فقرې په (الف) بند** کې له غړو هیوادو څخه غوښتل شویدي چې د جرمي مسئولیت حداقل سن تعین کړي. د **٤٠ مادې د ۳ فقرې د (ب) بند** غړي هیوادونه مکلف بولي چې دداسې ماشومانو په هکله مقررات وضع کړي تر څو جزائي سیستم ته له مراجعې پرته او د بشري حقوقو او قانوني خوندیتوب له احکامو سره سم د هغوی قضیې و څیړل شي.

په یوه جرم تورن ماشومان تر هغه ځایه چې پر جزائي حالاتو کې په خوندیتوب پورې اړه لري د نیونې،توقیف،تحقیق او محاکمې په وخت کې له لویانو سره مساوي حقوق لري. د جزائي اجراأتو خوندیتوب باید د ماشوم غوره ګټې وژغوري او د هغه د استماع او په ټولنیز ژوند کې د بیا ورګډیدو د حقوقو دره ناوې وکړي.

د ماشوم د حقوقو د تړون د **۳۷ مادې د (الف)فقرې** له مخې

**هیڅ ماشوم تر ربړونې(تعذیب) اویا کوم بل ظالمانه،غیربشري او حقارت امیزه چلند یا مجازاتو لاندې نشي راتلئ.**

په ټولو حالاتوکې ماشوم مطلق حق لري چې د ربړونې (شکنجې) او يا کوم بل ظالمانه،غيربشري او حقارت اميزه چلند يا مجازاتو لاندې رانشي. دا حکم د کوم جرم په خاطر او يا د تربيوي او دسپليني مواردو په منظور د بدني مجازاتوپه برخه کې هم صدق کوي. هغه ماشوم چې د ناوړه چلند قرباني وي دا حق لري چې د خپلې جسمي او روحي بيارغا او په ټولنيزژوند کې د بياورګډيدو له لازمو تدابيرو نه ګټه واخلي.

**د ۳ مادې د ۱ او د ٤٠ مادې د ۱ فقرو** له مخې د ماشوم غوره ګټې بايد هغه اساسي اصل وي چې د محکمو په شمول د ټولو ادارو له خوا د ماشوم په اړوند د پريکړې نيونې په وخت کې د لارښود په توګه ومنل شي تر څو په ټولنيز ژوند کې د ماشوم بياورګډيدو ته لاره مساعده کړي.

هر ماشوم چې د جزائي قانون څخه په سرغړونه تورن شوې وي بايد له هغو تضمينونو نه ګټه واخلي کوم چې د CRC د تړون د ٤٠ **مادې د ۲ فقرې د (الف) او (ب) په بندونو** کې راغلی دي
ځينې دا تضمينونه د بشر دحقوقو په نړيوال قانون کې عمومي منل شوي اصول دي او ځينې نور په خاص ډول تدوين شويدي تر څو د ماشومانو د ګټو ساتنه وکړي.
د ماشوم د حقوقو د تړون د ٤٠ **مادې د ۲ فقرې د (الف) بند** له مخې

**هيڅ ماشوم د يوه عمل اويا نه عمل له کبله کوم چې د ملي او نړيوالو قوانينو له خوا دارتکاب په وخت کې نه وي منع شوئ د جزا له قانون څخه د سرغړونې په تور مظنون،متهم او يا محکوم کيدای نشي.**
**د ٤٠ مادې د ۲ فقرې د (ب) بند د ۱ جز** له مخې
**هر ماشوم د ذمی د برائت حق لري او ترڅوچې د قانون له مخې مجرم نه وي پيژندل شوئ، بيګناه دئ.**

**د ٤٠ مادې د ۲ فقرې د (ب) بند د ۲ جز** له مخې ماشوم حق لري
**په ګړندۍ او مستقيمه توګه د هغه پر ضد له اتهاماتو نه خبر شي، که لازمه وي د هغه د والدينو او يا د قانوني سرپرست له لارې، او د خپل ځان څخه ددفاع د برابرولو په منظور له حقوقي او نورو لازمو مرستو نه برخورداره شي.**

"د نورو لازمو مرستو" اصطلاح ددې امکان ورکوي چې د ماشوم په دفاع کې داسي څوک چې حقوقي وکیل نه وي هم برخه اخیستلئ شي. مګر دا ډول مرستې یوازې له قانون څخه د کوچنیو سرغړونو په حالت کې تجویز کیږي.

**د۴۰ مادې د ۲ فقرې د (ب) بند د ۳ جز** له مخې ماشوم حق لري چې

**د هغه قضیه د باصلاحیته ، خپلواکې او بیغرضه ادارې او یا قضائي محکمې له خوا د قانون د احکامو سره سم، دحقوقي وکیلانو او یا نورو مرستیالانو په ګډون، مګر داچې د هغوی ګډون د ماشوم د غوره ګټو سره برابر نه وي، د هغه د سن،حالت،والدینو او یا قانوني سرپرست په نظرکې نیولو سره، بیله ځنډه وڅیړل شي.**

**د ۴۰ مادې د ۲ فقرې د (ب) بند ٤ جز** دوه جلا حقوق لري . لومړئ د ماشوم حق چې د شهادت ورکولو او یا په جرم اعتراف کولو ته مجبور نشي، دوهم: په مساوي توګه د مقابل طرف د شهودو په اوریدنه او څیړنه او د خپلې خوا د شهو دو په وړاندي کولو او څیړنه کې د برخه اخیستنې حق.
**د ۴۰ مادې د ۲ فقرې د (ب) بند د ۵ جز** له مخې که چیرې یو ماشوم د جزائي قانون نه په سر غړونه محکوم شي نو پدې صورت کې ماشوم دا حق لري چې

**د یوې لوړې باصلاحیته ،خپلواکې او بیغرضه ادارې او یا قضائي ارګان له خوا د قانون له مخې ددې فیصلې او د هغې په نتیجه کې د ټولو وضع شوو اقداماتو د څیړنې غوښتنه وکړي.**

د ماشوم د حقوقود تړون **د ۴۰ مادې د ۲ فقرې د (ب) بند د ٦ جز** له مخې ماشوم دا حق لري چې

**که چیرې په معموله ژبه ونه پوهیږي نو په وړیا توګه د یوه ژباړونکي له مرستو نه ګټه واخلي.**
**د ۴۰ مادې د ۲ فقرې د (ب) بند ۷ جز** حکم کوي چې تورن ماشوم دا حق لري چې
**د قضائي اجراأتو په ټولو مرحلو کې د هغه محرمیت ته پوره دره ناوې وشي.**

په جنائي اجراأتو کې د تورن ماشوم لپاره د محرمیت د ساتلو حق د لویانو په پرتله ډیر پراخ دئ.

**ماشوم او د ازادۍ محرومیت**

له ازادۍ نه د ماشوم محرومیت یوه خاصه مسئله ده. که چیرې ماشوم د بندي کیدو په سبب له خپلې کورنۍ نه بیل شي، دا کار په هغه باندې ډیره ژوره اغیزه او بنائي بیرته نه راګرزیدونکي رواني تاثیرات ولري، په همدې لحاظ د بشري حقوقو نړیوال قانون هڅه کړیده چې د ماشومانو د ازادۍ سلبول ډیر ټیټ حد ته ورسوي.
نړیوالو قوانینو د ازادۍ دسلبولو د منفي اغیزو د کمولو په منظور د ماشوم د غوره ګټو پر اساس د خاصو قواعدو اټکل کړئ دئ.
د ماشومانو د حقوقو د تړون **۳۷ ماده** د ماشوم د ازادۍ د سلبولو په هکله احکام لري. برسیره پر دې له ازادۍ نه د محروم شویو تنکې ځوانانو د ژغورنې په هکله د ملګرو ملتونو قواعد چې د عمومي اسامبلې له خوا د ۱۹۹۰ کال د دسمبر په ۱٤ تصویب شویدي، داسې یو سند دئ چې په خاص ډول له دې موضوع سره سراوکارلري.[۲٤]

ددې سند د ۱۱ قاعدې د (ب)فقرې له مخې:
**د ازادۍ سلبول د قضائي اداري یا دولتي موسسې په امر سره د هر ډول توقیف او حبس او یا په یوه دولتي او یا شخصي ځای کې دیوه تن تر نظارت لاندې نیول دي له کومه ځایه چې دا شخص په خپله خوښه د وتلو اجازه ونلري.**

د ماشوم د حقوقو د تړون د **۳۷ مادې (ب) فقره** حکم کوي چې ، لومړۍ
**هیڅ ماشوم باید په غیرقانوني او خودسرانه توګه له خپلې ازادۍ نه محروم نشي.**
دوهم دا ماده پدې هکله توضیحات ورکوي چې:

**د یوه ماشوم نیونه،توقیف او حبس باید د قانون د احکامو پراساس وي او د وروستي ګام په توګه تر ممکن او لازم لنډ مهال پورې دوام وکړي.**

۲٤ پوره متن دلته وګورئ: http://www.unhchr.ch/html/menu۳/b/h_comp۳۷.htm

د تړون د **۲ مادې** مطابق، د ازادئ سلبول هم باید په غیر تبعیضي توګه ترسره شي.
نیول شوئ،توقیف شوئ او یا محبوس شوئ ماشوم د خپل سن د کموالي پر اساس نور اضافي حقوق هم لري. دداسې ماشوم سره چلند باید دهغه د خاصو ضروریاتو په نظرکې نیولو سره او دهغه د غوره ګټو د اصل سره مطابق وي.

**د ۳۷ مادې د (ج) فقره** د ناوړه چلند د منع کولو په هکله د همدې مادې د **(الف)** فقره تکمیل کړیده او حکم کوي چې:

له ازادئ څخه دهرمحروم شوي ماشوم سره بایدانساني چلند وشي، دهغه انساني کرامت ته دره ناوئ وشي، او دا چلند باید په یوه داسې دود تر سره شي چې د هغه په سن باندې دیوه انسان ضرورتونه په نظر کې ونیول شي.

**د ۳۷ مادې (ج) فقره** زیاتوي :
**له ازادئ څخه محروم شوې ماشوم باید له لویانو څخه بیل شي، مګر داچې د ماشوم د غوره ګټو په ملاحظې سره له دې کاره ډه ډه وشي.**
**د ۳۷ مادې د (ج) فقرې** له مخې، له ازادئ څخه هر محروم شوئ ماشوم
**دا حق لري چې له خپلې کورنئ سره د مراسلاتو او یا لیدنو له لارې تماس وساتي، د خاصو حالاتو په استثنا.**

**د ۳۷ مادې د (د) فقره** حکم کوي:
**له ازادئ څخه محروم شوئ ماشوم حق لري چې حقوقي او نورو مرستو ته دسترسي ولري، او همدا راز د خپلې ازادئ د محرومیت د قانونیت په هکله محکمې یا نورو باصلاحیته،خپلواکه او بیغرضع مقاماتو ته عرض وکړي او د پریکړې او اقداماتو غوښتنه وکړي.**

د ماشوم د حقوقو په تړون او د ملګرو ملتونو په قواعدو کې هڅه شویده چې د ټولو ماشومانو لپاره له ازادئ څخه د محرومیت د دلایلو له په نظر کې نیولو نه پرته د حد اقل حقوق وټاکل شي. له دې کار نه موخه د ماشوم د بیارغا او په ټولنیز ژوند کې دبیاورګډیدو په هکله د زمینې مساعدول دي.

**د ماشوم د حقوقو کميټه**

د ماشوم د حقوقو کميټه د خپلواکو ماهرانو څخه جوړه شويده او د غړو هيوادونو له خوا د ماشوم د حقوقو د تړون د عملي کولو څارنه کوي. دا کميټه په تړون پورې د اړوندو دوو خپلخوښې پروتوکولونو د تطبيق څارنه هم کوي، کوم چې په وسله والو کړکيچونو کې د ماشومانو د ګډون او د ماشومانو د خرڅلاو، د ماشومانو د فحشا او د ماشومانو د پورنوګرافی په باره کې دي.

د ماشوم د حقوقو د **٤٤ مادې** له مخې ټول غړي هيوادونه مکلف دي چې د دې حقوقو د تطبيق د څرنګوالي په هکله په منظمه توګه کميټې ته رپوټونه وړاندې کړي. هيوادونه تړون ته تر پيوستون دوه کاله وروسته او او ورپسې په هرو پنځو کالو کې يو ځل کميټې ته رپوټ ورکوي. کميټه د هر رپوټ تر څيړلو وروسته خپلې اندېښنې او پيشنهادونه د *وروستيو ملاحظاتو* په توګه غړي هيواد ته سپاري.
کميټه د هغو اضافي رپوټونو څيړنه هم کوي کوم چې بايد د هغو غړو هيوادو له خواچې د خپلخوښی پروتوکولونه ئې لاسليک کړيدي وړاندې شي.
کميټه نشي کولای چې انفرادي شکايتونه وڅيړي، مګر د ماشوم حقوق په نورو هغو کميټو کې څيړل کيدای شي کومې چې د انفرادي شکايتونو د څيړلو صلاحيت لري.

دا کميټه په عادي ډول په کال کې درې ځله په ژنيو کې دايريږي چې عمومي غونډه ئې درې اونۍ اوتر غونډې مخکې د کاري ډلې جلسات ئې يوه اونۍ دوام کوي. د ۲۰۰٦ کال په غونډه کې دې کميټې په استثنائې ډول په دوو موازي څانګو کې چې هرې يوې ئې ۹ غړي درلودل د هيوادونو رپوټونه و څيړل. دا کار د رپوټونو په څيړلو کې د وروسته پاتې والي له کبله يو استثناېي او موقتي
تدبير ؤ.

دا کمیټه همدا راز د بشري حقوقو د احکامو په باب خپل تعبیرونه چې پر موضوعاتو باندې د عمومي تبصرو په نامه مشهور دي چاپوي او د عمومي مباحثاتو ورځو ته سازمان ورکوي.

## ج) خپلخوښی پروتوکولونه

د ۲۰۰۰ کال د مې په میاشت کی د ملګرو ملتونو عمومی اسامبلې د ماشوم د تړون په اړوند په وسله والو کړکیچونو کې د ماشومانو د ګډون او د ماشومانو د خرڅلاو، د ماشومانو د فحشا او د ماشومانو د پورنوګرافی دوه خپلخوښی پروتوکولونه تدوین کړل. دخپلخوښې دې پروتوکولونو په ۲۰۰۲ کال کې قانونیت پیدا کړ او افغانستان دواړه د ۲۰۰۳ کال په سپتمبر کې لاسلیک کړل.[۲۵]

افغانستان په وسله والو کړکیچونو کې د ماشومانو د ګډون په هکله د ماشوم د حقوقو د تړون د خپلخوښی پروتوکول په باب دا اعلامیه صادره کړه:

**"... د ۲۰ نمبر فرمان له مخې چې د افغانستان ملي اردو ته د داوطلبانه شاملیدو په باب د ۲۰۰۳ کال د می د میاشتی په۲۵ نیټه د افغانستان د دولت د رئیس جلالتمأب حامد کرزي له خوا لاسلیک شوئ دئ د افغانستان د اتباعو لپاره نظامي خدمت ته د داخلیدو حد اقل سن له ۲۲ څخه تر ۲۸ پورې محدود شوئ دئ. د افغانستان ملي اردو ته د افرادو نیول داوطلبانه دي نه جبري یا تحمیلي."** [۲۶]

---

[۲۵] د ماشوم دحقوقو د تړون د خپلخوښې پروتوکولونو پوره متن دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/law/crc-conflict.htm;
http://www.ohchr.org/english/law/crc-sale.htm

[۲۶] پوره متن دلته وګورئ:
http://www.ohchr.org/english/countries/ratification/۱۱_b.htm#reservations

## د) حقوقي مـــوارد

**بريتانيا: تايرير د بريتانيا په مقابل کې**

د تايرير او بريتانيا په قضيه کې د اروپا د بشر د حقوقو محکمې بايد څيړلی وې چې ايا عدلي بدني مجازات د اروپا د بشر د حقوقو د کنوانسيون سره مخالف دي او که نه. په دې قضئې باندې فيصله دعدلي بدني مجازاتو په اړوند چې د کنوانسيون په خلاف دي ډيره ګټوره ده ځکه چې په هغې کې د محکمې له خوا له استدلال څخه د ماشومانو د مجازاتو د نورو ډولونو د ازموينې لپاره هم ګټه اخيستل کيدای شي.

عارض يو ماشوم و چې د مان په ټاپو کې پر بل چاد حملې او بدنې جراحت په ګنا په لښتو وهل شوې و. عارض د لښتې وهلو د فيصلې پر ضد د مرافعې په غوښتنه کې ناکام شوئ و. محکمې عارض طبي معايناتنو ته استولې و د کومو له مخې چې ماشوم د مجازاتو لپاره مساعد وګڼل شو. د لښتې وهلو په نتيجه کې د عارض پوټکئ پړسيدلې و اما پري شوې نه و خو تر وهلو وروسته يوه نيمه اونی يې درد درلود.

د اروپايي محکمې مخې ته دا مسئله وه چې ايا د عارض مجازات د بشر د حقوقو د اروپايي کنوانسيون د ۳ مادې له مخې تحقير اميزه دي او که نه. ددې مادې په حکم " هيڅ څوک تر ربړونې او يا غير انساني او سپکاوي کوونکي چلند او يا مجازاتو لاندې نشي راتلئ ". محکمې اشاره وکړه چې يو شخص کيدای شي يوازې د جرمي محکوميت د واقعيت پواسطه تحقير شي. محکمې داهم په ډاګه کړه چې تحقيراوسپکاوې ښايي دعدلي مجازاتويوه اغيزه هم وي ( د"جزائي سيستم له غوښتنو څخه د اطاعت نه کولو له امله" ). نو ځکه هم دريمه ماده يوازې د محکوميت پواسطه په تحقيرولو اکتفا نه کوي، د يوې خاصې جزا په نتيجه کې بايد نوره ربړيدنه هم موجوده وي.

ددې لپاره چې يوه جزا د" تحقيراميزه " سرحد ته ورسيږي او د ۳ مادې له خوا د منع شوو احکامو سره سمون پيدا کړي، بايد د جزا په نتيجه کې " تحقير او توهين يوه معين حد ته ورسيږي او په هر حالت کې تر معمولي تحقير نه توپير ولري . " د مان د ټاپو لوی څارنوال ونه شوی کړئ خپل دا استدلال په کرسی کينوي چې عدلي بدني مجازات له کنوانسيون نه سرغړونه نه ده ځکه چې دې مجازاتو د مان په ټاپو کې د عامه افکارو اعتراض ندئ راپارولې. محکمې يادونه وکړه که چيرې فرض کړو چې محلي عامه افکار

کولې شي د تحقیرامیزه چلند په تفسیر کې اغیزه ولري، نو ددې اغیزې څېړل ددې بحث موضوع نده. د قضاوت له مخې همدومره کافي ده چې عارض د خپلو سترګو په وړاندې تحقیر شوئ دې، د خلکو د سترګو په وړاندې لا پرېږده.

محکمې دا امکان رد نه کړ چې دې ډول مجازاتو ښايي په عارض باندې ناوړه رواني اغیزې کړې وي. ددې تشدد د رسمیت ماهیت په دې واقعیت سره چې د جزا ورکولو په وخت کې درسمي کسانو یو ټولګئ حاضر و او د جزا تطبیق کوونکي د عارض لپاره بیګانه و نور هم زیات شوئ دئ. برسیره پر دې عارض راتلونکي تشدد ته په انتظار درلودلو سره له رواني ربړ سره مخامخ شوئ دئ.

محکمې یادونه وکړه هغه جزا چې د خلکو په عقیده د جرایمو په کنترول کې اغیزمنه وي په دې معنی نه ده چې خپل تحقیرامیزه خصلت له لاسه ورکوي. په دې ترتیب محکمې فیصله وکړه چې یوه تنکي ځوان ته د لښتو په وهلو جزا ورکول د کنوانسیون له ۳ مادې څخه سرغړونه ده.

## هــ) نتیجه

په نړیواله سویه د ماشومانو د حقوقو د ساتنې په لاره کې د موجودو ستونزو ا و موانعو څخه باید په ملي سطحه کې د لازمو اقداماتو د نه نیولو د بهانې په توګه استفاده ونشي.

د ماشومانو د نړیوالو حقوقو ژغورنه د ټولو نورو حقوقو د ژغورنې په شان لازمو منابعو ته اړه لري کومې چې د نړیوالو حقوقو موضوع نه بلکه د نړیوالې سیاسي ارادې موضوع ده. د ماشوم د حقوقو د ساتنې په برخه کې په لاسته راغلو بریالیتوبونو سره کیدای شي سیاسي اراده زیاته شي.

# مأخذونه

## متنونه:

Charlesworth, H. and Chinkin, C., *The boundaries of international law. A feminist analysis* (Manchester: Manchester University Press, ۲۰۰۰).

Steiner, H. J. and Aston, P., *International Human Rights in Context. Law Politics and Morals*. Second Edition (Oxford: Oxford University Press, ۲۰۰۰).

Van Bueren, G., *The International Law on the Rights of the Child* (The Hague: Kluwer Law International, ۱۹۹۸).

Wardak, Ali, 'Building a post-justice system in Afghanistan' in *Crime, Law and Social Change* ٤۱, pp.۳۱۹-۳٤۱, ۲۰۰٤.

## ويبسايټونه:

### تړونونه

د بشر د حقوقو نړيوال تړونونه
http://www.ohchr.org/english/law/index.htm
د۱۹۷۹ کال د ښځو پر ضد د ټولو تبعيضونو د له منځه وړلو تړون
http://www.ohchr.org/english/law/cedaw.htm
دماشوم د حقوقو تړون
http://www.ohchr.org/english/law/crc.htm

### سازمانونه

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کميسيون
http://www.aihrc.org.af/
د انگلستان او ويلز د حقوقپوهانو د ټولنې د بشري حقوقو کميټه
http://www.barhumanrights.org.uk/
د انگلستان د بهرنيو چارو وزارت
http://www.fco.gov.uk

## BAR HUMAN RIGHTS COMMITTEE OF

## ENGLAND AND WALES

# Training Manual

# Rights of Women and the Child

**Afghanistan**
**April 2007**